

Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستاد ځوانۍ تصویر په خوب
# اوده دے

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپله مینه باندې حق دے زما

کتاب * ستا دځوانۍ تصویر په خوب اوده دے

مصنّف * اظهار الله اظهار

ترتیب * محمد ایاز غزل، شکیل احمد نایاب

اهتمام * پروفیسر شوکت الله حسن، محمد داؤد کمال محسن

پروف ریډنګ * نوشاد حکیم، پروفیسر سید ایوب شاه

رومبے اشاعت * جنوري ۲۰۰۳ء

پریس * انصاري پرنټنګ پریس محله جنګي پېښور

کتابت * ارشاد خان "پښتو اکېډيمي پېښور

قیمت * دوسل روپۍ (۲۰۰)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

دَ خپل عظیم پلار پروفیسر انعام الله جان قیس
او دَ خپلې درنې مـور په نومـونو چې
ساه ساه ئې راته دَ جنتونو نکهتونه
راسپړي . او نظر نظر ئې راته په لارو
کښې دَ رفعتونو اسمانونه او دَ اسمانونو
رفعتونه غوړوي

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

# د هایکو

## هیئتي رنګونه، موضوعات او پښتنه هایکو

لا ړله هایکو خپلو ښائسته خویونو او سپېڅلو رویّو پښتنه کړه. دې زړهٔ راښکونکې ادبي صنف دومره لږ وخت کښې د پښتون قام د اجتماعي لاشعور مرکز ته ځان ور اورسولو چې د شعري اصنافو د ارتقاء په تاریخ کښې ئې خیال کول هم یو خوب او خیال ګڼلے کېږي. د کومو صفتونو په بنیاد چې یوه معاشره د خپل وجود جواز راپیدا کوي. هغه اوس کم او زیات د پښتنې هایکو په خټه کښې اغږلے شوي ښکاري. دغه وجه ده چې هایکو په یوه مرحله کښې هم د پښتون قام نه ځان په فاصله نهٔ دے ساتلے. ښهٔ په زړه د دوې په غم ښادۍ او مړې ژوندې کښې شریکه شوې ده. او د پښتنو د ژوند ژواک نه ئې نهٔ یوائې ځان بېل ساتلے دے. بلکه قدم په قدم ئې د پښتنې سیمې د ژوندې روایتونو د ښو قدرونو، سماجي غوښتنو، تهذیبي رویو، اوسې ژوند او ثقافتي هلو ځلو نه د خپل زړهٔ

درزاکاني جوړې کړې دي . او اوس دَ هایکو په ساده ساده کېنې دَ پښتنې خاورې وږمې نغمه نغمه راپورته کېږي او تېپه تېپه خورېږي.

لنډه دا چې پښتنې معاشره کښې دَ ژبې ون نه را واخله تردې ساعته پورې څومره بدلون راغلے دے هایکو ترې په مکېږ مکېږ خپله غېږه او په هنر هنر خپلې مرمرينې لېچې راچاپېره کړې دي . او په خپله زرورينه لوپټه ئې ورله شمله هسکه ساتلې ده . ځکه خو دَ ځنو ښاغلیو له اړخه نه دَ پښتنې هایکو غندنه بېخي داسې ښکارې لکه سړے چې خپلو پښو له تبر را اوبخوې.

دَ هایکو په موضوعاتي ارتقاء دَ خبرو کولو نه وړاندې دا لازمي ضرورت محسوسېږي چې دَ هایکو په هیئت بدلون او پرمختګ دې هم رڼا اوغورځولے شي. هایکو چې دَ جاپان دَ اوږد نظم "هایکاټی" نه ځان را بېل کړو نوکهو شکلونو کښې ئې ځان څرګند کړو. او په خارجي سطحې ئې خپل کړې شمېره تجرباتي تصویرونه رابنکل. ولې دَ ځینو تصویرونو تجربې او دَ ځینو تجربو تصویرونه پکښې لکه دَ کاڼي دَ بُت په ځاے ولاړ پاتې شو. او دَ ارتقاء هیڅ تحرک او تموج پکښې راپیدا نه شو. چې حیثیت ئې اوس دَ تاریخي حوالو نه سېوا هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نهٔ دے پاتې شوے. ولې ځنې ارخونه يې نهٔ فقط ارتقاء سره مخ شو بلکه دَخپل پرمختګ سفر دَ دنيا ګټ ګټ ته ور اورسول. خو چونکه دغه صورتونه هم دَ دنيا نورو ژبو او ادبياتو سل په سله خپل نهٔ کړل او دَخپل مزاج او استعداد ترمخه يې پکښې ضروري بدلون او خپل ځان سره مناسب سمون راوستلو ځکه نو په هيئتي سطحه يې نور هم کښ اشکال او تماثيل مخې ته راوړل چې دَ وخت بدلېدونکيو ساعتونو کښې ځينو خپل ځانونه ژوندي اوساتل او ځينو لکه دَ سمندر دَ موجونو دَ سفر په لاره کښې خپل وجود اوبائيللو.

دَ هايکو دَ هيئتي تاريخ احاطه کول يقيناً يو ډېر وخت غوښتونکے عمل دے. ځکه نو دلته دَ عالمي ادبياتو نه او خاصکر دَ مشرقي ادب نه دَ هايکو يو څو نمائنده هيئتي نمونې وړاندې کولے شي.

دَ هايکو دَ درې[٣] مصرعه ايز تعين نه وړاندې په عالمي ادب کښې دَ يو مصرعې هايکوګانې، دغه رنګ دَ دوو[٢] مصرعو هايکوګانې هم سرونه راپېورته کړل. او تر دې ساعته پکښې طبع ازمايي کېږي. خو داسې صورتونه دَ هايکو بنيادي هيولے سره زيات سمون نهٔ خوري. لهذا دَ بقاء په حقله يې څهٔ واثيل هم ډېره ګرانه دَه.

Scanned by CamScanner

البته دَ نمونې په ډول ترې نه مثالونه وړاندې کېږي.

" دَ يوې مصرعې هايکوګانې "

ترجمه ۱: يو لوګی ده چې په پارکنګ دا کوزېږي ګوره

(اليکيسن روتيله)

ترجمه ۲: باران په هره کړکۍ

(کوردن ډين سوويل)

ع ۳ : دَ کړه مار دَ سر اسمان دے زما

(محمد اياز غزل)

ع ۴ : دَ تعبير ونو لار کښې ورک شمه زهٔ

(شکيل احمد نایاب)

ع ۵ : خو پلوشو زما دَ سترګو نظر هم يوړلو

(اظهار الله اظهار)

په دې ټولو مثالونو کښې دَ هايکو داخلي مزاج پټ پټوني کوي. تصويرونه پکښې جوړېږي. دَ فطرت حادثې او دَ تخيّل رنګونه پکښې ترغاړه اوځي. ولې دَ شعور په سمندر کښې هغسې غورځنګ نهٔ راولي. دغه سبب دے چې دلته تصويرونه يواځې تصويرونه او عکسونه نه دي. حرکت هم پکښې محسوسېږي. خو دَ فکر وړاندې منزل او دَ نتيجې کوټلي مرحلې ته ذهن ډېر په ګرانه ور رسوي. او په خپله داسې وايي چې زمونږ دَ فني تکميل زاويې په نامعلومه لاره کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکې شوې دي. موږ نیمګړې نیمه خوا یو.

"دوه مصرعه ایزې هایکو کانې"

ترجمه: د جنورۍ د میاشتې تاریخ دی
د ډمې کوټې لا تر اوسه یخې دینه
(باب بولډ مین)

۲ع: ستا لوپټه که مې رانه وړه
زه به خپل ځان په اباسین لاهوکومه
(اظهار الله اظهار)

۳ع: ما باندې ستا سترګې بلا ګرانې دي!
ګني نو اور به په ټول کلي پورې کړوو ما
(اظهار الله اظهار)

کېدې شي دلته څنې اعتراض کوونکي دا هم اووایي چې د مبنی دوه هایکو کانې خو د "یا قربان" د التزام نه یو خواته بیخي د پښتو ټپې دي. او که چرته هایکو داسي وي نو بیا ټپه څه بلا ده خو ولې هایکو په خپل ځان کښې د پښتو د ټپې خوږه هم لري. ځکه نو د ابلاغ د اسانتیا په خاطر او د تفهیم او وضاحت دپاره د "باب بولډ مین" دوه مصرعه ایزه هایکو د ټپې په هیئت کښې ترجمه کړې شوه. دوېم مثال د ورمبي په تتبع او مړسته کښې رااوړلے شو البته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېمه حواله دَ هایکو او دَ ټپې دَ صنفي تفریق په خیال راوړے شوه . چې کنې چرته دَ دوارو صنفونو هیئتي امتیاز یو بل کښې ګډ وډ او ورک نشي . او دا هم چې ځنې نادان معترضین په مثال دَ اصل ګمان کښې بیا چرته دَ خپل سر وېښته را اونهٔ شوکوي . او نوي ماتمونه راجوړ نهٔ کړي .

بهرکیف دوه مصرعه ایزه هایکو دَ یوې مصرعه ایزه هایکو په مقابله کښې زیات فعالیت په دې لړې چې تصویر دَ تصور په لاره روانه وي ولې پښتو ادب سره سره په عالمي ادب کښې دَ درې مصرعه ایزه هایکو دَ تخلیق رجحان منګولې ګلکوي ګیا دے ځکه نو ورو ورو دوه مصرعه ایزو هایکو هم خپل نقشو نه پیکه او تت کړي دي . او دَ سفر نه يې دَ ستومانې ګردونه راتاؤ شوي دي .

درې مصرعه ایزې هایکوګانې دَ هیئتي تنوع او ساختیاتي اختلاف باوجود خپل حقیقي روح ته زیاتې ورنزدې دي ځکه يې خو دَ تجرباتي پېښو باوجود ښکاره مقبولیت هم موندلے دے . هایکو چې دَ هیئت او ساخت کوم پېژندلي شکلونه ځان سره راوړي دي . دلته ترې نه یو څو دَ مثال په طور وړاندې کولے شي . دَ درې مصرعه ایزې هایکو یو قدیم جاپاني شکل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوولس سیلابین شکل دے. په دې کښې اوولس څپې
دَ ۵ - ۷ - ۵ په ترتیب سره راځي او خپله تخلیقي او
هنري اکائي جوړه وي.
په اردو ژبه کښې دَ ضروري ذخافاتو نه یو
طرف ته دا هائیکو دَ "بحر متدارک" دې ارکانو
سره سمه راځي.

فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فع

یا دَ موسیقۍ د دې ارکانو په مرسته سرته رسي.

سا رے گاما پا
سا رے گاما پا دا نې
سا رے گاما پا

مثالونه ۱:-

خوب مې لیدهٔ څهٔ
نهٔ راته یادیږي اوس
شوے ئې تعبیر ته

(قاسم محمود)

۲:-
بس شو زما وار
مینه وینې وینې شوه
ورکه ئې کړه لار

(نادم خټک)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰ ـ پــه تال چـي ځانګي
ځني زړه ستړي پـښغلي
اور تــه ور داننګي

(اظهار الله اظهار)

۴۰ ـ يو خوب او خيال دے
کارغــه زده کـړے کلــه
د زرڼي چــال دے

(اظهار الله اظهار)

دا انداز د پښتو ژبي بنيادي آهنګونو او صوتياتي نظام سره سمون نه خوري. لهذا په پښتو ژبه کښي يي لا تر اوسه د تخليق باوجود هيڅ مقام نه دے تر لاسه کړے. بله دا چي په دريو مصرعو کښي ارو مرو او ولس چي ځايونه يا اولس چي په دريو لنړو او يردو تا کلے شوو مصرعو کښي بنديواني کول يو طرفته يقيناً يو هنروري ده ولې هم دغه هنروري د تخليق په فطرت ناروا اثر هم غورځوي. او يو ميکانيکي او مصنوعي فضا راجوړه وي. کم از کم د پښتو ژبي تر حده خو دي صورت تصنع کښي هيڅ شک نشته اوس که څوک په دي ترتيب کښي د تخليق صحت په ځائے ساتلے شي. نو بيا خو پکښي هيڅ عيب نشته خو داسي بنکاري چي دا دريه به پشري نه شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دَ درېٍ مصرعه ایزه هایکوګانو یوڅو نور شکلونه هم اووینئ -

ع۱ ؛ اوخاندده
که خوښه دې وي (۳-۵-۳)
اوژاړه

(شکیل احمد نایاب)

ع۲ :- اومنله
زما خبره (۳-۵-۳)
روب به شي

(محمد ایاز غزل)

ع۳ ؛ ستا نه به زار شمه خو
که دغه حال وي ګله (۷-۷-۷)
ستا نه به زار نهٔ شمه

(محمد ایاز غزل)

ع۴ ؛ زما دَ کور بندیان خو دومره هم خاموشه نهٔ وو
اوس خو زما هاغه معصوم بچي هم حال دادے چې
زهٔ ئې په زوره تخنوومه خو خندا نهٔ ورځي
(اقبال حیدر) (۱۶-۱۶-۱۶)

ع۵ ؛ ستوري رانغاړم پلوشي کښي دَ ژوند
ستا بنائسته نوم دَ رنګينو لوکو په وزرو نويکم
چې دَ ورمښي قلم راواخلمه زهٔ
(اقبال حیدر) (۱۱-۱۹-۱۱)

Scanned by CamScanner

عـ۶ ، دا د سحر خاموشي

خو د بڼاخونو منځ کښې شور کوي نن

يوه يوا ځې پانېه (۷-۱۲-۷)

(ج. ډبليو پيکټ)

عـ۷ ، سينې د پغلو د لاسونو سره هم پوره شوې

داسې ښکاريږي کنې (۱۶-۷-۱۶)

يوه پرده باندې ګلونه راټوکيږي رژي

(رودو ويلموټ)

عـ۸ د لوګونه به ډولۍ جوړه کړم

زه به رنګونه د سپرلو ټول په جرګه درولم

تا به بوځم لېونۍ (۱۱-۱۶-۷)

(اظهار الله اظهار)

عـ۹ ځه رانه مه اړوه

نګه د سپينګي شان د اورنه الوتلې يمه

تا له راغلې يمه (ز-۱۶-۷)

(اظهار الله اظهار)

عـ۱۰ ، اوګوره

زه د خپلو سپو روپه اوږو باندې سورلي کوم

تا سره سيالي کوم (۳-۱۶-۷)

(محمد اياز غزل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



علا : دَ پوهریانو دَ ژوندون قصه به تاته کوم

زما جانانه (۱۶ - ۵ - ۲)

کیسه

(تشکیل احمد نایاب)

دغه رنګ دَ موضوعاتو یا عنواناتو دَ لاندې لیکلې شوې هایکوګانې او دَ مسلسل هایکوګانو مثالونه هم له نظره راتېرېږي چې دَ تجسس فقدان پکښې محسوسېږي . داسې هایکوګانې قدم په قدم خپله موضوع وړاندې بوځي او دَ ګڼو تصویرونو رنګونه پکښې دَ یو مرکزي تصویر څهره رابنکاره کوي خو چونکه داسې هایکوګانې دَ هایکو جامعیت ، اختصار او علامتي پېرایې ته زیان ور رسوي . ځکه ترې عام طور سره تخلیق کونکي ډډه کوي . او یو بدعت یې ګڼي .

دغه رنګ دَ نثري نظم په رنګ ځنې تخلیق کونکیو نثري هایکوګانې هم لیکلې دي . چې په دریو کرښو کښې خپله افسانه سرته رسوي ولې داسې هایکوګانې له آهنګ او غنایت نه معرّي وي ځکه دَ پښتنو دَ ذوق تنده پرې نه ماتېږي داسې برېښي چې دَ نثري نظم په رنګ به پښتانه د نثري هایکو معاني صورت خپلولو ته تیار نشي ولې دَ موضوع ترخه دَ نثري هایکوګانو یو څو عکسونه ځکه وړاندې کولې شي چې دَ هایکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیئتي سفر اندازه ترې هم اوشي. او د تاریخي ریکارډ
سمون هم سم شي.

"مثالـــونه"

ع۱: زه د خپل کور په چت ملاست یم
توره شپه ده د اسمان ستورې شمارم
خوداسې ښکارې چې ترې ستا غمونه ډېر زیات دي
(شکیل احمد نایاب)

ع۲: د کره مار د پاسه یوسف خان څوک دے
تا له پته ده چې همغه هم غزل دے
مینه د قالبونو پروا داره نه وي
(محمد ایاز غزل)

ع۳: ستورې زما د خپو ښاپونه دي
دا ټول به زه په یو هنر رایو ځاے کړم
او ستا د زنې خال به ترې نه جوړ کړم
(اظهارالله اظهار)

په دې موقع دا صراحت هم ضروري ګڼلے کیږي چې
په عالمي ادب کښې همدغه رنګ په مشقي ژبو کښې د
هایکو د مخلوط بحرونو تخلیق هم مخې ته راغلے دے
خو پکښې د اهنګونو سمون سم نه دے ځکه
یې یواځې په یادولو اکتفا کیږي. مثالونه یې نه شي
وړاندې کولے.

Scanned by CamScanner

دا د هایکو د هیئتي سفر یو څو پړاوونه وو. څو ځله ته چې پښتنه هایکو ویلې کېږي. هغه دې توټو هیئتونو نه ځانته بیل کړه وړه او خوند رنګ لري پښتنه هایکو متوازي الاوزان هایکو ده چې هره مصرعه یې بلې سره برابر او په ترنم او اهنګ کښې تړلې شوې وي. چونکه دې هایکو کښې مصرعې لنډې تنګې یا اوږدې بږې لنډېږي نه ځکه یې د پښتنو منصفانه ذوق خوښوي. دا ساختیاتي سلسله د پښتنو د موسیقۍ سره هم سل په سله سمه ده. او حافظه یې هم په پوره تېزۍ قبلوي. خو دلته دا وضاحت هم ضروري دے چې پښتنه هایکو یوازې د دریو برابرو مصرعو تکرار هم نه دے. بلکه د یو خاص یوولس سیلابین بحر د الستزام نامه ده. چې د رزمیه بحرونو دې ارکانو سره لږ ډېر مماثلت لري. ارکان دې

"فاعلاتن مفاعلن فعلن"

په هیئتي اعتبار پښتنه هایکو د خاص یوولس سیلابیز ردهم سره ځکه او تړلې شوه. چې پرې د پښتو هایکو لیکونکیو ځان ته اجتهاد او اجماع کړې ده. او په پښتو ژبه کښې چې تر دې ساعته څومره د هایکوګانو مجموعې مخې ته راغلي دي غالبه او درنه برخه یې هم په دغه خاص اهنګونو کښې وجود موندلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے. او بیا پرې د پښتنو اولسي ذوق پوره پوره اعتماد هم کړے دے.

د پښتنې هایکو په دغه خاص هیئت کښې چې کومې مجموعې مخې ته راغلې دي. پکښې د بناغلي اسماعیل گوهر "مسکا" د اظهار الله اظهار "راته غوږ ونو کښې ینګرې شرنګوي" "کاڼي د ګل په لاس کښې خوند نهٔ کوي". او دا مجموعه "ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دے" دغه رنګ د بناغلي ډاکټر دیدار یوسفزي "نسکورې لیټې" د پروفیسر نواز طائر "خو یو نه خپل کلي کښې" د بیغلې ناهید سحر "خپلو خوبونو له تعبیر لټوم" داسې د بناغلي محمد ایاز غزل د هایکو مجموعه "د بنا پښتونو د صحرا وربشې" او د شکیل احمد نایاب "پلوشې" هم په ګوته کړې شوي چې کښې د تخلیق د مرحلو نه راتیرې شوې دي.

د هایکو په داسې هیئت د پښتون قام درې طبقې متفق دي چې پکښې مشران ځوانان او بیغلې شاملې دي. ځکه دغې اتفاق له د اجتهاد او اجماع نامه ورکول عین روا دارې ده. او دغه خاص یوولس سیلابیزې هایکوګانې پښتنې هایکوګانې کڼل بېځې بې ځایه نهٔ دي. په دې خاص تناظر کښې دا یو څو هایکوګانې اولولئ.

Scanned by CamScanner

ع۱، زړه مې تنهائۍ ته لوخړه اوکړې
پوهه چې اوڅکي توريالي دَ وطن
دَ خور دَ سر لوپټه هم خرڅوي

(شکیل احمد نایاب)

ع۲، یوې کوجرې ته ټګولو ویل
تا به یو ورځې سمندر لاهو کړې
مور دې په پښو کښې اوبهٔ کړوي

(محمد ایاز غزل)

ع۳، دَ داسې خلقو په ولقه کښې دے ژوند
چې په نصیب ئې دَ سپېرلو زمکه ده
خو بیا هم څې په اسمان لاړې توکې

(ډاکټر دیدار یوسفزے)

ع۴، چا راته وے چې دَ سپېلي ورځو کښې
هغه تر لرې ګرځي ساکو پسې
څکه پښتې کښې مې شرشم اوکړل

(اسماعیل ګوهر)

ع۵، دَ هسپتال هغه منحوسه ګړه
مې نهٔ هېرېږي چې تا ماته اووې
"خپل ځان مې بایللو تهٔ مې اوکتلې"

(پروفیسر محمد نواز طائر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع۶ ؛ دا خنداګانې ئې فريب وي هسې
دَ وخت ميچنه کښې دَل کښېږي مدام
دَ ادم زوي په ماته سپک مه ګوره
(ناهيد سحر)

ع۷ ؛ لوښي چې کچن کښې ګنده پاتې شي
راشي په ژبه ئې صفا ستره کړي
زما دَ ښځې نه پښو پاکه ده
(ظفر خان ظفر)

ع۸ ؛ دَ محبت له عظمتونو نه زار
چې دَ زامنو ئې وډونه جوړ شي
مياندې په سپينو سر ګډاګانې کوي
(اظهار الله اظهار)

ع۹ ؛ په شرق دې اونګې رسمونه دَ بنسار
چې دَ کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما دَ هوسۍ کټ کښې ميلو اوليدهٔ
(اظهار الله اظهار)

بهرحال دغه خاص هيئت کښې دننه هم ختې تجربې په نظر راځي. پورتني واړه مثالونه دَ معرّیٰ هايکوګانو په زمره کښې راځي. خو په دغه معلوم چوکاټ او هيئت کښې مقفّیٰ هايکوګانې هم ليکلې شوي دي. چې په درې مصرعو کښې ئې ترتيب اوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



را اوړي یا وړاندې ورسته کیږي. د مثال په طور داسې یو ولس سلابیزې مساوي الاوزان هایکو گانې شته چې ورمبنۍ دوه مصرعې یې په قافیه کښې تړلې شوې دې. او آخري مصرعه ورسره په آهنګ کښې برابره وي خو معنی ئې وي. دغه رنګ اولنۍ او آخرۍ مصرعه د قافیو په آهنګو نو کښې دا توله وي. ولې دویمه یا منځنۍ مصرعه د قافیې نه ازاده وي یا آخري دوه مصرعې د قافیو په لړه کښې سللې شوې وي. او اولنۍ ددغې قدغن نه خلاصه وي. داسې مثالونه هم شته چې درې واړه مصرعې یکښې هم قافیه او هم ردیف وي. خو کومه بې ساختګي چې په معنی ئې شکل کښې موندلې شي. عموماً ترې دا نور واړه صورتونه په څه نه څه حوالې سره عاري وي. بهر کیف دلته د وضاحتي ترتیب سره سمې هایکو گانې را نقل کیږي.

"مثالونه"

ع١) ارمان په غېږ کښې د ارمان ورک شولو
مانه د لاس کړښو کښې ځان ورک شولو
د زړهٔ درزا یې اوس لا رڅې ته شم

(اظهار الله اظهار)

Scanned by CamScanner

ع۲: ما ېکښې عکس د ښونتوب اولیده
په سوچ کښې ورکه شوه د ژوند اېنه
زه چې بیدار شومه، ما خوب اولیده

(اظهار الله اظهار)

ع۳: د سترګو تور دې د غزل مطلع کړم
داسې راټول راټول تقسیم شومه زه
لکه د کاڼي په مینځ نیم شومه زه

( " )

ع۴: د وخت رفتار لا اودرولے شي څوک
داسې په وړاندې زمانه لاړه شي
چې اېښه دانه وانه لاړه شي

( " )

ع۵: زنځیر موکړے، موکې زنځیر اوخوړه
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړه
نن دې وینو رانه تصویر اوخوړه

( " )

دا حقیقت دے چې یک د تخلیق په پیمانه خپل اعتبار او نه بایللي نو بیا ئې د هیئت د وجود او ثبوت دپاره د هغې خارجي دلیل جواز نه رامېداکېږي خو د ظاهرپرستو نظر لنډ تنګ وي. او د هر څه دپاره یوه ټاکلې شوې پیمانه او فرم غواړي. او په

دغه فورم کښې ژوند او فن دواړه بند يوان هم ليدل غواړي - دا خبره ځکه اوکړے شوه چې د ځينو جامد ذهنونو او رجعت خوښونکو عناصرو دا خيال دے کړنی چې هايکو که د ۵ - ۷ - ۵ په اوولس سلابز ترتيب اونه ليکلے شي ـ نو هغه به بېخي هايکو نهٔ وي . او حال دا دے چې داسې ناروا قدغنونه جاپانيان هم د تخليق د فطرت په لاره کښې خنډ ګڼي. نو بيا اخر په دوي د اوولسو سلابونو چيه چيه او ډلې ډلې پېرييان ولې ناست دي. اوس که څوک په دغه ترتيب کښې ښهٔ معياري شاعري کېدله نو بيا هم يوه خبره وه خو داسې هم نهٔ دي شوي - د دغې هيئت خوښوونکي شاعري نهٔ کوي بلکه ناست وي خپلې ګوتې شمېري او ځان ته ښتېږي او اوږدې مصرعې راپادوي او په لاس کښې د لفظونو خوږوونکي او خوږونکي کيانو رانيولو بې ځايه تکلّف کښې خپل وختونه ضائع کوي. ګڼې چې دې ټوله سلسله کښې آورد په اُمد غلبه وي .

سوال دا راپيدا کېږي چې په دغه پېرائې کښې څه څې ته راغلي دي - د شعر په پيمانه څه مقام لري او که نه دا ټول د غير فطري اوازونو يو فريب او رياضتي پېښه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حقیقت دے که جاپانۍ هایکو پښتو ته راځي نو
د پښتو د دود دستور د لاندې به ئې هیئت، ساخت
او معیارونو او پیمانو کښې لازمي بدلون راځي. ځکه
چې جاپانۍ ژبه د خپل مجموعي مزاج او صرفي نحوي
او صوتیاتي جوړښت په اعتبار هم د پښتو ژبې سره
اړیکه نۀ لري او س که پښتانۀ هایکو تخلیق کوي نو
په هیئت کښې به ئې د پښتو ژبې او د پښتون قام د
معروضي حالاتو په تناظر کښې کيے او زیاتے خاخا
راولي. ځکه که په اسالیبو کښې دغه بدلون رانشي
نو بیا دا تهوله سلسله هسې یوه لوبه تهوقه شي ځکه
نو داسې عناصر وله پکار دي چې د نورو د ناپوهۍ د
فکر نه زیات د خپل مرسپن او مرغیچن ذوق جاج
واخلي او د پښتني هایکو د تحریک مخې له دې نۀ راځي
کښې نو د غو رځنګونو په دې سمندر کښې به لکه
د ګنګخرې لاهو شي.

ځنې لیکونکي چې پکښې ښاغلے اسیر منګل، ښاغلے
اباسین یوسفزے، ښاغلے روښان یوسفزے، ښاغلے
غازي سیال، پروفیسر محمد نواز طائر او رحمت شاه
سائل په اولني قطار کښې په نظر راځي. په دې بحث
کښې هم لوستونکي تږباسي ګڼي چې هایکو د جاپان
نه نۀ ده راغلي بلکه په پښتو کښې د کاکړۍ غاړې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل کښې وړاندې نه موجوده وه. دا خبره غیر
تحقیقي، غیر منطقي او غیر اصولي ده. غیر تحقیقي په
دې ده چې مونږ سره د کاکړۍ غاړې د ارتقاء نښې
معلوم تاریخ نشته. فقط د یو څو خورو ورو وراُستو
او کړو وړو نمونو په لاس راتلل ددې خبرې دلیل
بېخي نشي کېدے. ګنې چې هایکو به د کاکړۍ غاړې
نه را زېږېدلې وي. دا بستایُلې بناغلې خو دومره پورې
وائي چې د جاپان هایکو هم د پښتو د کاکړۍ غاړې نه
راپیدا شوې ده. کمال دے د هایکو د صنف یو معلوم
تاریخ دې چې ټولې دنیا ته ښکاره دے. او په پوره
تواتر سره د ابتداء نه را واخله تر دې دمه پورې
را رسېدلے دے. او حال دا دے چې پښتنو ادیبانو له
تر اوسه دا هم نهٔ دي پېژندلې چې د کاکړۍ غاړې څهٔ
ساخت، څه تاریخ او څهٔ څهٔ هیئتونه دي. او د
کومو خاص موضوعاتو احاطه کوي یا په کلاسیکي
شاعرانو کښې دا چا، چا تخلیق کړې ده. او دا هم چې
کاکړۍ غاړه او هایکو په هنري او هیئتي حوالو د
یو بل نه په څومره فاصله دي. که چرې دا دویُٔ
شي ګنې چې دا د هایکو اضافي کنټریبیوشن دے. چې
په پښتو کښې ئې "کاکړۍ غاړې" را اووېستلې نو بې
ځایه به نهٔ وي. ګنې چې پښتني هایکو پښتانه د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ماضي د ورکو نندارو تماشو ته راپاروئي دي -
(او دا هم د هایکو کمال دی چې پښتانه ئې یو واري بیا
په تپه مشین کړل) .
د "هایکو" او "کاکړۍ غاړې" راپیو ځائے کولو
دعوئ غیر منطقي په دې حواله ده چې "کاکړۍ غاړې"
څه ادبي صنف نه دے . بلکه د اولسي لوبو ټوټو
دوبړو ' اړونو او د لفظي او ذهني کرتبونو حیثیت
لري . بل ئې رواج دومره کم پاتې شوے دے چې اکثر
پښتانه پرې په خپله هم د سره نه رسي . د سوچ
مقام دے چې په کومو داوونو پېچونو کښې پښتانه
په خپله تېر وځي . نو جاپانیان به ترېنه اخر
څنګه اثر واخلي او بیا یې ورله لا د یو ادبي صنف
مقام هم ورکوي . حقیقت دا دے چې د جاپان او د
پښتو ادبي تاریخ داسې لښځې ثبوت هم نه لري چې
کښې دغې مفروضې ته پرې تقویت ور اورسي . اوس
که چرې جاپانیانو د پښتو ادب نه څه استفاده کول
هم غوختل نو د پښتو ژبې نور معلوم صنفونه نه
وو چې د کاکړۍ غاړې غوندې مجهول څیزونو پورې
په اخته . دې لړ کښې د قلندر مومند صیب رائے دا
چې پښتنو لیکونکیو له نه دي پکار چې د هر راتلونکي ادبي
صنف جرړې دې په پښتون ثقافت کښې د کتلو ضد

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکړي . خاص کر چې هیڅ قرینه پرې هم شهادت نهٔ کوي .

د "کاکړې غاړې" او "هایکو" د اتصال او یووالي دا دعوی غیر اصولي په دې ده چې د "کاکړې غاړې" او هایکو تر منځه دومره ظاهري، باطني، لفظي، معنوي، منطقي هیئتي، شعري، خارجي او داخلي لرې والے پروت دے . چې د دواړو دا یو ځائے کولو عمل د جهل مرکب په دایره کښې راځي اوس که د ذوق خاوندان د هایکو هیئتي ادلون بدلون ته یو نظر هم ور اوکړځوي نو ددغو یاد بناغلیو د راجوړې کړې شوې ډرامې ډراپ سین به په خپلو سترګو اووینې .

او بیا په تېره تېره بناغلے رحمت شاه سائل په دې حواله دومره خطرناک حد ته رسیدلے دے چې د سیاق او سباق نه یو خوا ته د پښتو د میترې شاعرۍ د ختزانې نه د دریو دریو مصرعو خود ساخته اکایۍ جوړوي . او د هایکو عنوان ورله ورکوي که د بناغلي وس اورسیده نو د پښتو د کلهې شاعرۍ نه به د ځهٔ وړاندې ورستو د مصرعو په خارجولو او په ځهٔ ضروري تحریفونو او اضافو هایکوګانې راجوړې کړې . دا رښتیا دي چې چرته هم د علمي او ادبي تحقیق لارې بندې وې . نو بیا هم داسې ناروا او ناشونې کیږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشکر وېستل پکار دي. چې ښېښتانهٔ اوس په چا هم په ښتو ستړګو باور نهٔ کوي. سائل صاحب ته دي معلومه وي چې هایکو څهٔ د ګنجې لېونۍ مینه هم نهٔ ده چې هر کس او ناکس به پکښې د خپلې برخې ترلاسه کولو خوبونه وینې.

بهرکیف د ظاهري هیئت نه یو خوا ته هایکو یو داخلي صنف هم دے چې د لمحو ژوند او د ژوند لمحې د جمال د احساس د لاندې په ژورو تخلیقي تجربو کښې رانغاړي. دا صنف د ښکاره وضاحتونو نه ځانته یو بیله د رازونو لار را اوباسي. لکه د غزل د صنف هایکو هم د رمزیت، اخفاء، اشارو، کنایو او استعارو په ژبه خپل پیغام بل ته ورسوي. دا صنف د خپل ورک داخل نه د انکشاف ساعتونه رازېږوي. او د موجود نه زیات محسوس ته پام ورکړځوي. دا رښتیا دي چې هایکو یو ادبي صنف دے خو هایکو د یو سپېځلي تهذیب او کوتلې تمدن نامه هم ده. هایکو د رنګونو او تصویرونو هنر دے. خو د ژوندي تصویرونو هنر چې ځانته د جهان خواره عکسونه راسټنوي ګني چې هایکو د متحرکو تصویرونو خاموشه ژبه ده او د ژبې د خاموشیو ګویان انځور دے. د هایکوګانو رانېهٔ تصویرونه که مونږ له څهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه راکوي او څه رازونه راته وايي نود شو ترڅو په سر راناڅه سوالونه او تپوسونه هم کوي - هايکو د تاش يو غور ځنګ هم نه دے بلکه د يوې زورورې تخليقي لحې او باطني تجربې يو بيناسته او هنري اظهار دے - دلته لحې تصويرونه کېږي او بيا دغه تصويرونه د نسلونو په تاريخ د انسان په نفسياتو او د موسمونو په بدلون رابدلون او د تهذيبونو د زمانو په تېرېدو او هسک کېنې ورکېږي او ښکاره کېږي، ډوبېږي او راپرڅېږه کېږي او د انسان د ذات او کائنات ترمنځه فاصلې په مينه مينه اوباسي - معاشره په خپلو کړو وړو او خدوخال کېنې په هنر هنر راښکاره کوي .

ددې نه اګاهو چې د هايکو په موضوعاتو سرسري خبرې اوکړے شي لوستونکو ته د مغربي او مشرقي ژبو د څينو هايکوګانو ترجمې په دې غرض ور وړاندې کېږي چې يو خو ورته د هايکو د 'افاقي تخليق اندازه اولګي او بل په دې وسيله د مختلف قامونو د سوچ د انداز نه هم خبر شي - دغه رنګ د هايکو په مختلفو ژبو اثر او د مختلفو ژبو د هايکو په ساخت او موضوع د غورزېدلي اثراتو لږه ډېره اندازه ورته هم اوشي او بيا د پښتو ژبې د فراختيا، ملمستيا، اظهاري

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوت او جوهر پته ورته هم اوکي او دغه رنګ په دې بهانه د دنیا د نورو ژبو او پښتو ژبې د هایکوګانو څه تقابلې عکسونه هم دوې ته راوړاندې شي او د شعور ورته حاصل شي چې د پښتو هایکو ساخت او هیئت ولې د دنیا د نورو ژبو نه ځانته او بدل دے یا دغه رنګ پکار دي.

## د انګریزي هایکوګانو د پښتو ترجمې

ع۱

| | |
|---|---|
| The baby | ته دې ماشوم بچې ته ګوره چې |
| sucking his Thumb | خو مره په مینه ګوته روي |
| Moon gazes | سپینه سپوږمۍ ئې دید نو نه کوي |

(Tom clausen)

ع۲

| | |
|---|---|
| First snow | د موسم واوره وربدل شروع شو |
| gathers | د انغرې نه ګېر چاپېره ګوره |
| all in | نن د یارانو محفل بنه ګرم دے |

(Barbura Ressler)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ع

In a swing — اُځي په ټال باندې جوته او خورې او
The widening are — بیا راټه او خاندې دَ شونډو په سر
of the smile — ړک دَ موجونو سمندر شمه زه

(John Thompson)

دَ فرانسیسي دَ یوې هایکو ترجمه

۴ع

vent dérange, — هوا ته او ګوره پاکله شوله
on dance al'orage — دَ طوفانونو په اوږو الوځي
c'est nuageet dobata — ستا لوپټه او دَ اسمان وریځي

دَ عربي ژبې هایکوګانې او ترجمې

۵ع

دروغ دي ټولې دَ دنیا دا ویرې
که دي رښتیا دَ کائنات اولیدل
دلته لویې ټوله الله لره ده
کذب کل الخوف کذب
احق الحق فی المعالم
الله اکبر الله اکبر

(مترجم پروفیسر عطیه جلیل عرب)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع۶

چرته چې څمه راته وراندې ته ئې
په نعره لاره هرګوته پېښ قسم دے
دَ الله هو يو هنګامه جوړه ده
في كل مكان انت يا رب
اىّ زمانٍ ايّ مكان
يز وى الصوت الله هو
(مترجم پروفيسر عطيه خليل عرب)

دَ فارسي ژبې هائيکوګانې او ترجمې

ع۷

| | |
|---|---|
| اوښکې مې کمې کمې اوس تو نېږي | گریه کم کم است |
| بلا موده اوشوه زما دننه | از زمانه یا در دل |
| دَ يو موسم حکمرانې جوړه ده | یک رنگ موسم است |

ع۸

| | |
|---|---|
| دانې باران دَ پشکال داسې وو | باران امسال |
| دَ اونو پاڼې زعفرانې شوې ټولې | زرد پریده برگ دل |
| او ديوالونه مې دَ کور راشنه شو | سبز شد دیوار |

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسندهي هايكوګاني او ترجمې

ع۹

غرونو ته او ګوره هيڅ غبر نه کوي — ګم صم تيا ګهسار
خو چې آزار وربې شو درنو — ماګهن کي پيتر هين پيا
اوس د بېرو عذاب انسان دل کوي — صد بن جا آزار

(اقبال حيدر)

ع۱۰

هسې نه خان له تندې او ژنې ته — ياتي جا جهرنا
وربسې لړ غونډې لمبون خو او ګړه — ګولړ سان ملي وينډا
نو د او بو چينه هم دلته کښې ده — منان مرو پياسا

(اقبال حيدر)

## د بلوچي هايکوګانې او ترجمې

ع۱۱

دا زړه مې هسې بې قرار دې کنې — بې قرار انت دل
د هر موسم په ژبه دا نغمه ده — موسم انت و دارانې
د منزل لونو سپوري لرې نه دي — دور نه لنت منزل

(پروفيسر غني پرواز)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲

زۀ هم دَ مینې دَ احساس قیدي يم ـــ هره ء بنریک آن
راله که غم که خوشحالي راکوي ـــ درد بخشیت که دشی
هرڅه چې غواړي دَ جانان خوښه ده ـــ یا دیه کو لیګ انت

(ډاکټر علي دوست بلوچ)

دَ پنجابي هایکو ګانې او ترجمې

۱۳

پرېږده دَ سپوږمۍ تماشې ته کوم
زۀ دَ ختلي نمر رڼا ته ولې
دومره دَ لاندې نه نظر اوکړمه

ڈھلدے سائے دے دل میں کیوں تکدی
میں بلندی ساں اپنواں کیہہ ویہندی
میں تے یانن ساں چڑھدے سورج دی

۱۴

خلقو ته ښکې دَ وفا زوتوم
اوس که زما نه هم جفا اوشوله
ځان له به یو چه دوه سزا ورکوم

میں سبق دینی آں وفا واں دا
مینتھوں بے وفائی ہو جاوے
دونی ملنی این فر سزا مینوں

Scanned by CamScanner

ددې مثالونو په رڼا کښې یقیناً چې د ژبو د تهذیب فرق به په لوستونکیو منکشف شوے وي. او دا اندازه به ورته هم لګېدلې وي چې د دنیا ثقافتونه په کوم نقطه را یو ځاے کېږي او په کوم پړاو بېلېږي.

بې ځایه به نه وي که د جاپان د ځینو نمائنده هائیکو نګارانو د یو څو هائیکوګانو ترجمې هم په دې مرحله رانقل کړے شي چې لوستونکیو ته دا شعور هم حاصل شي چې د جاپان زمکه او پښتنه خاوره خپلو کښې څومره ثقافتي فاصلې او جذباتي اړیکې لري.

ع ۱۵:
او به په څه رابېداري شولې
نن چې ناسایه یو اوده تلو ته
یو د چینډخې چې ټوپ او وهه
(باشو)

ع ۱۶:
څومره بې کچه زړه راښکون دے پکښې
دا د دوؤ غرونو مینځ کښې لاره چې ده
د بنفشې ګلونه خاندې پکښې
(باشو)

ع ۱۷:
ښځې ورک وومه یواځې وومه
چې مې یو او چه ځانګه ماته کړله
د زړه د خلاصه مې ژړلې دې نن
(شیکی)

ع١٨، دَخاموشۍ راخور جادو دې پکښې
دَچينډ خانو اوازونه واوره
يو الله هو او الله هو دې پکښې

(بوسون)

ع١٩ که دَ ما بنام تياره خوره شي نو څه
ا نرګسي سترګې چې اور اونيسي
دَ زړه په لار کښې مې ډېوې بلې شي

(بوسون)

ع٢٠ تَه دَ مارغانو وينا واوره کنه
واڼې جهاز هوا کښې پورته شي او
خپلو وزرو له رپا نهٔ ورکوي

(يا ماکوچي)

ع٢١، ورځه زمونږ په سر اور وروي
دَ شپې موږ ژني حادثې دَ فراق
په کومه لاره باندې تګ اوکړي څوک

(سانتوکا)

ع٢٢، ما سره مل زما خوبونو کښې ده
سترګې چې پټې کړم ښکاره ئې وينم
هغه زما نه جدا شوې نه ده

(سانتوکا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳ـ د اوره، هوا او د باران شرقا وې
د جدايي په دې موسم کښې راشه
چې قافلې سره ملګرې شو مونږ

(اِسّا)

۲۴ـ اُف دا سپين بږيرے بوډا اووينه لږ
چې سر وهلے بر وهلے ګرځي
په اديره کښې تږې نه لار ورکه ده

(اِسّا)

کېدے شي چې ځني د وهم رنځوران دا هم وائي چې دا نمونې هسې بې ځايه راوړلے شوې دي. خو رښتيا خبره دا ده چې په دې حواله پښتانه لوستونکي په ورمبي ځل د هايکو عالمي تهذيب سره پېژندګلو تر لاسه کوي. او بيا په دې پسې ايي کښې لوستونکو ته دا هم ښودلے شوې دي چې هايکو څومره سنجيده تخليق دے او د څومره تخليقي زاره چاودون غوښتونکے دے.

پاتې شوه دا خبره چې هايکو د کوم موضوعاتو احاطه کوي. نو ددې خبرې ښکاره جواب خو دا دے چې دا يو ادبي صنف دے او د ادب موضوع ژوند سره تړلې واړه موضوعات وي. ځکه نو په هايکو د موضوعاتو قدغن نکول ښې ناروا کار دے خو چونکه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هایکو دَ هیئتی ارتقاء سره سره دَموضوعاتي ارتقاء نه هم را تېره شوې ده نو بایده چې سرسري ذکر ئې اوشي. دَ هایکو دَ هیئتي تبدیلیو په شان دَ هایکو دَ موضوعاتي تنوعاتو اصل مرکز هم جاپان دے ځکه نو دَ ځه وخت دپاره سپوږي خپل اصل ته ورګرځولي کېږي -

دَهایکو دَ موجد او باني "باشو" رائې ده

"دَ هایکو تخلیق کښې دَ ماشو مانو فطري

روح ته نظر ورستنول پکار دي"

باشو دَ فطرت او دَ انسان ترمینځه رابطه دَهایکو موضوع جوړه کړه او بیا ئې په یوه ننداره کښې دَ ګڼو ننداړو او تماشو سپوږي هم په ګډا کړل. لنډه دا چې باشو هایکو دَ فطرت راز داره اوګرځوله.

"مسا او کاشیکي" چې دَ باشو معاصر وو دَ خپلو لسو فلسفیانو شاګردانو په مرسته دَهایکو موضوع ذاتي وصائفو او شخصي انفرادیت سره اوتړله او دَ هایکو دَ تخلیق ستړکي ئې دَ انسان دَ داخل پټ پټو نو ته ور ستنې کړې خو دا سلسله ورستو دَ لفظونو یو ځنګل کښې بدله شوه چې معنې به پکښې ورکېدلې. ځکه خو "بسون" ددې رجحان غند نه اوکړه. او باشو ته ئې دَ ورستېدلو بشکاره اعلان اوکړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بایاشي إسّا" دَ هایکو تخلیق دَ زبېښلي طبقې
او دَ ورو ورو بې وسو مارغانو ځناورو دَ دردېدلي
او رټېدلي ژوند دَ اظهار سره اوتړلو.

او بیا دَ جاپان دَ جدید هایکو لیکونکیو سرخېل
"سي، شي ماساکوچي" دَ هایکو دَ تخلیق خوره جولۍ
کښې دَ فطرت دَ تماشو سره سره دَ کائناتو دَ تکویني
نظام رازونه او سماجي پېښو اسباب هم را ونغښتل.
بېرکیف دَ موضوعاتو دَ تنوع باوجود دې ټولو
هایکو لیکونکو کښې فطرت او دَ فطرت متعلقات شریک
قدر او موضوع وه. خو په جاپان کښې دَ هایکو
لیکونکیو یو داسې ډله هم پیدا شوه چې دَ فطرت او
دَ فطرت سره تړلي عناصر او عوامل ئې رد کول شروع
کړل او دَ هایکو په تخلیق کښې ئې ددغې ځینو نفي
اوکړه. دَ دوي په خیال تېرې لسې او دَ فطرت دَ
موسمونو بدلېدل را بدلېدل په ذهن کښې دَ ماضي
دَ ځاګیر دارانه سوچ عکسونه ورننه باسي ولې بیا هم
دَ جاپان زیات تره هایکو نګارانو دَ فطرت غېږه
کښې دَ خوب لیدلو عادت پرې نخودلو.

ددې اختلاف په شا دَ تخلیق دَ ازاد عمل (Free
Imaginative creativity) او دَ تخلیقي انضباط
دَ (serious artistic discipline) متقابلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملونو انګازې صفا اوربدلے شي.

ترڅو چې د ښښتنې هایکو د موضوعاتو تعلق دے نو ښښتنه هایکو په دې لړ کښې په ځان لیځ قدغن نۀ بردي. هاغه ټولې هغه څلې چې د ښښتنو د ژوند تصویر تر ښه سازبنې. دا ئې په ځان کښې ځایوي. البته اخلاقي قدرونه د ښښتو د لاندې نۀ راولي

د ښښتنې هایکو ښیر ایه چاله هم دا بلنه نه ورکوي چې راشه په ماکښې د خپلو سفلي او حیواني خواهشاتو لپون اوکړه. یا په ماکښې د خپل جنس زده ژوند او ځنګلي مزاج تنداري اوګوره اوس که څوک داسې کوي نو هغه پوهې شه او د هغهٔ خدائے.

زۀ دلته یو واري بیا ددې خیال اعاده کوم چې ښښتنه هایکو کوم اجتماعي عمل او اجتهادي بصیرت رازبنې ولي دۀ باید چې رعایت او لحاظ ئې اوساتلے شي. مطلب دا هم نۀ دے چې د تجربو سفر دې په ځائے اودربنې. ولي ترڅو چې په هایکو کښې نوې کامیابه او معقول هیئتي تجربه نۀ وې شوې. نو د بې ځایه اختلاف سنګر بېغودل عین روا دارې دۀ. او بیا هسې هم د یوې کامیابې تجربې بې ځانه غندنه ژبې ته نقصان ورسوي.

د موجوده ښښتنې هایکو کښه دا هم دۀ چې خپل

Scanned by CamScanner

ځان او خپله جامه یې د پښتنو د ثقافت په رنګونو ښائسته کړې ده. د داسې هائیکو رانګ د پښتو ژبې د اوازونو، سیلابونو او انګازو ګټور لحظې دي. پښتنه هائیکو نه یوازې د فطرت هنداره ده بلکه د فطرت او روایت د اختلاط نه د راځېدونکو مظاهرو په ملا سورلې هم خورې ګټیا ده. پښتنه هائیکو د فطرت او روایت په ګټهېدونو پښه نیولې د ژوند تر تبدیلي لحظې رانیسي او نوې تنظیمي او هنري ساه پکښې ورپوکي. دغه رنګ ځان له د مخ سره راټولوي.

باید چې پښتانه هائیکو لیکونکي د چاپېره ماحول سره سره خپلې تخلیقي چینې او د ځان دننه ربښتیا په پوره هنري پوستوالي او روانۍ سره راپوځائے کړي او د عظمت او رفعت نه ډېر ډېر ونکي ترانې او سندرې ترې نه را اوزېروي. یقیناً چې هم داسې به کېږي.

په درنښت درناوي
اظهار الله اظهار
لیکچرر اردو څانګه اسلامیه کالج
پېښور یونیورسټي
نېټه ۲۱/۶/۲۰۲۰ء

# حوالې

۱۔ اظهار الله اظهار — راته غوږونو کښې بنګړي شرنګوي
۲۔ اظهار الله اظهار — کاڼي د ګل په لاس کښې خوندنه کوي
۳۔ اسمٰعیل ګوهر — مسکا
۴۔ دیدار یوسفزے، ډاکټر — نسکورې لیکې
۵۔ سهیل احمد "مدیر" — هایکو انټرنیشنل (اقبال حیدر نمبر)
۶۔ شکیل احمد نایاب — "بلوشې" غیر مطبوعه
۷۔ ناهید سحر — خپلو خوبونو له تعبیر لټوم
۸۔ نواز طائر، پروفیسر — خوبونه خپل کلي کښې
۹۔ محمد ایاز غزل — د بناستونو د صحرا ورځې (غیر مطبوعه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئي مي دا ده چې بنده يُمه ستا
برېت اَخر اووايه په څهٔ تاؤکړمه
چې يوه ساه مې هم اختيار کښي نهٔ ده

❀ ❀

دَ اَخـري رسول امت کښې يُمه
اوس خو زما او دَ جنت تر مېنځه
بېښي قسم دے فاصلې نشته دے

Scanned by CamScanner

څوک به زما له حاله څه شي خبر
یو نوی داغ مې په لمن پرېوته
چې د ګلاب څانګه کښې ګل ښکاره شو

❁ ❁

زه د چا ملاسته غواړم نه پاسوم
شپې یې څکه ستا د چم لېوني
ما په ازغو باندې راکاږې مدام

❁ ❁

مخې دې د ورانۍ ایښې غونډۍ دے
بیا به وي دا چې درته ګورمه نه
څو به د ځان سره په جنګ اخته یم

دَ زلفو سیورو ته مې خوب کولو
چې دَ ښځې ژړا راپیاده شوله
په سرهٔ غرمه ترېنه راپاسېدمه

❀ ❀

دَ اسمانونو ورته سرخکته وي
ګل به کرم دَ محبت ، چرته چې
دَ رېل پټلۍ دَ غر سینه پرېکوي

❀ ❀

څومره شرمېږي دَ ښائست مېرمنه
ورته چې ګورم په نظر دَ مینې
رانه دَ خوړ اوبو کښې ځان غوټه کړي

بې روزګارۍ چې مې ځکه اولیدې
ویشل یې ګرانه بابا غم مه کوه
بیا به ټافیانو پسې نه ژاړمه

✿ ✿

شیرینې ژوند دَ شوکیرو نامه ده
خپله ځواني دې چرته خاورې نه کړې
دَ زوړ دیوال سیورې ته خوب مه کوه

✿ ✿

رب دې اباد کړي خپل کورونه په دوی
خو یو ژور سوچ کښې راګیر شمه زهٔ
پېغلې چې مانه اټوګراف اخلي

ا لېونۍ سره به اوس څهٔ کوم
وائي که شل ودونه هم اوکړې ته
نو زهٔ به یُم ستا یو وېشتمه ښځه

زهٔ چې ترې لږ هم لرې کېږمه نو
راپسې ژاړي دَ ګوډر غاړه کښې
ما دَ ګنګا په اوبو اولامبوی

په یو غورځنګ سره اسمان ته رسي
وه لېونۍ پېغلې په خود کښې اوسه
تا لا دَ زمکې تل لیدلے نهٔ دے

په زړهٔ کښې وایم داسې مړ به نهٔ یمه
چې مې د سینې چپې تر لرې یوسي
د ننګه غږې ئې نوره هم پوره شي

❁ ❁

زړهٔ په یوه خندا لمبه داسې شي
لکه د اوړې د غرمې له تاوه
د ښار پاخهٔ کورونه اور اخلي

❁ ❁

مینه په ځان ګواښې نهٔ رد کوي
تا پاندې څنګه اعتبار اوکړمه
تهٔ خو د هر پېغوره تېښته کوې

تهٔ دَ سپږلو کاروان ته لار مهٔ نیسه

په شا ستانهٔ کړه نظر و نهٔ دَ ښکار

څهٔ کور ته څهٔ! چې ته سرتوره نشې

❁ ❁

او ښکې چې ستا سترګو کښې اوچې شي نو

دَ شپې تیارهٔ مې اندېښنې زیاتې کړي

دَ اسمان ستورې رانه لار بدلوي

❁ ❁

در سره حقې شرې نهٔ کومه

څهٔ ستا دَ خپې نه مې توبه شیرینې

خو راشه اوس دې رانه سپې کورې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکار مونه دي دَ فریب رنګونه
دَ سپرلي باده خپله لاره نیسه
هسې په مونږ پورې خندا مه کوه

❀ ❀

مینه په هر موسم کښې خوند نه کوي
په سرهٔ غرمه له کوره مه راوځه
دَ پښکال تاؤ دې میراته نهٔ کړي

❀ ❀

ستا دَ قامت سوځ مې شمله هسکه کړې
چې بازارونو کښې دَ ښار جینکې
دَ سنډلونو په زور قد لویوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د ژړا ارمان دې اورژي خو
دغه یو خو ښاشکي باران شیریني
دې وطن د زمکې تاو زیاتوي

❀ ❀

د سمندر سفر راياد کړه کشه
رانه چاپېره طوفانونه ووخو
د ډوبېدو راسره ویره نه وه

❀ ❀

کور کښې د سېر اورو درک نه لګي
خوځان د لېچانه هم کم نه کړم
د وخت درې خمیره لګي زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته وے مسافری مه کوه
لاړو دَ سر سپورے دې هم خاوړې شو
دَ کور دالان دې پرېوتې اوخوړو

❀ ❀

دَ یوې پېغلې داېرې مې لوسته
ورته حېران شوم، ما یوه لحظه کښې
ګنې برېنډې فرښتې اولیدې

❀ ❀

درد لا دَ اوښکو لار لیدلې نه ده
وژنې مې مونږ دَ خپل وجود تاوونه
لا پشکال باراني شوے نه دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بې وسۍ داستان لا ختم نهٔ دے
ستا اواره خورې ورې زلفې هم
دَ چا مزدور په سر ورېځې نهٔ شوې

❁ ❁

خنکه مړه شي دَ نسلونو لوږه
هر څهٔ بنهٔ ده تر تېر دي خو غم دغه دے
زمونږ نه سترګې راپرېوځي هسې

❁ ❁

•

دَ حاسدانو شمېر مې زيات دے بلا
درد چې سوا شي نو په نيمه شپه کښې
ستورې راپاسېږي اتڼ واچوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغلمه څم د پلوشو په اوږو
زه د دې خاورې سره مينه لرم
خو د اسمان فکر مې هم کومه

❀ ❀

ښکرې دې مات دانه وانه پراته دي
له تانه زار، راسره ضد مه کوه
پرېږده چې فکر د روزګار اوکړمه

❀ ❀

زمونږ د کلي ښې اسروڅه شولئ
کور ته به رسو کنه لار کښې به مرو
هېوې ټريفک دے او کچه لاره ده

Scanned by CamScanner

ستې دې سکرې د ځوانۍ تاوونه
وېمه چې ښکل دې کړم خوښه اوکړمه
سکروټې نه بږدمه په تسو نړو دګل

❀ ❀

خوابنې منم له موره کمه نه وې
خو که زما په کور کښې کوټې وهې
هسې به ژوند د خیلې لور خاورې کړې

❀ ❀

ساه راکښې نشته خو خبرې کوو
لکه په زول کښې چې بجلې لاړه شي
او د پکو پرې تاوېږي هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې وایه که زما په لیدو
د زړه درزا دې سوا شوې نه وي
تو بیا دا ستا غوږونه سره ولې دي

❀ ❀

د مینې کومه سلسله یاده کړم
د تیلي فون تلې چې او غږیږي
وړم که څوک ماله په مړې غلې شو

❀ ❀

خوایږه د مینې راپیږ زوکړه هله
چې ستا بانه برند شي شیرینې زما
تو کیږ چاپیږ توري مچې والوځي

Scanned by CamScanner

ورک مې له ځانه حادثې کړي د ژوند
داسې مې هېر شي د ښائست يادونه
لکه چې اور د ځنګونه ورانه کړي

. .

❁ ❁

پېغلې ځوانۍ دي، د سپرلي موسم دے
ستړګې چې واړوي راګوري په شا
اسمان کښې پرق شي د ياران شپه شي

❁ ❁

فطرت ښائست هم د انسان زياتوي
چاپېره وخاندي ګلونه د رنګ
د ربل پاتلې چې د غر زړه کښې اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نه چې زړه يې وننګينې نه ويښتم
خو د فطرت ځنګلي وحشي داسې دے
چې ښار ښار ښکلاوو له پناه وړکوي

❀ ❀

د خدا اے رحمت هم امتحان دې کښي
چا کښې هم مينه وروروليٰ نشته دے
دا د چينې اوبه چې کوم پله ځي

❀ ❀

خدا اے شته مدام د ژوند سندرې وايم
زړه د ښمنې چا سره نه کومه
ما د خودۍ چينې اوبه ځکلي دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معجزه دَ محبت اووينه
چې دَ درد څرېكه په اسمان خوربېږي
دَ اور بڅرېي دَ ياران څاڅكي شي

❁ ❁

سېلاب چې راورېږي دَ ګلونو څانګې
دَ خوشبوېو قافله لوټ شوله جوړه
اوس به دَ كوم تصوير په داړ ژوندي يو

❁ ❁

دَ نظرونو تماشې اوخوړې
دَ ارمانونو مې دنيا ورانېده
تا دَ رنګونو لوګيه رانيوې

Scanned by CamScanner

اک یو تصویر زما په سترګو کښې دے

ماله به څوک دَ خوب تعبیر راکوي

باران ورېږي او فصلونه سوزي

❁ ❁

د دې وطن فضا سپېره دومره ده

یخه هوا که هم راوالوځي نو

د چا غریب په خونه اور پورې شي

❁ ❁

آ لېونی مې چرته قتل نه کړي

دومره خرابه شوه فضا دَ وطن

څوک په رڼو اوبو کښې ځے نه ډوبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تپوس کوم خو خفه کېږې به نه
دومره دې سترګو کښې وحشت ولې دے
ته که د ښکار سپو زغلولے نه ئې

❁ ❁

کور ته ورځه رب دې سر توره مه کړه
بې لوپټې حُسن رسوا داسې شي
لکه چې رنګ د لوکې والوځي

❁ ❁

د ښار مېړه منې خپل خاوند ته ووئیل
خدائے شته له تا ئې ستر که هم نه پړې
ستا د دفتر چپړاسي ما تنګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته معلومه دَ دښمن توره ده
چرته دا مدام کړځي په زور دَ اوبو
ته تر هغه لاس واخله نو هیڅ به نه وي

که درته غین نهٔ کوم تښ نهٔ اوځې
پرېږده بې خونده دېر دې بنهٔ پېښم
ته دَ موکې په زور تمپوته وهې

پېښ نه کړو نشته دَ خور او دَ لور
ددې وطن زلمي خو داسې نهٔ وو
څوک مې دا زهر کړوي وینه کښې

Scanned by CamScanner

زۀ په ساحل د سمندر ورک شمه
د درد د زانګو سېل راوالوځي او
د اوازونو په مرئ غلے شي

❀ ❀

دومره اوچت توپونه ځله ولې
زما خبرې ته هم غوږ کېږده لږ
څوک دې الوړے او ږنده نکړي

❀ ❀

د سر پروا مینه کښې نۀ کوم خو
دومره زما قتل اسان مۀ ګڼه
زۀ څه ویستلې اوبزه هم نۀ یمه

پروت که د سلو پېړدو شانته یمه
د نظر پرق به مې در اور سوي
هوار د تندر په اوږو الوځم

❁ ❁

د خوشحالۍ بنیاد په غم وي ولاړ
زما په شونړو څه خندا خوره شي
لا د غوټۍ زړهٔ خو چاودلے نهٔ دے

❁ ❁

اوس خو بنده ستا ده چې راځې او که نه
شیریني ته چې مې په ځنګ کښې نهٔ یې
نو پلوشې مې د سپوږمۍ سوزوي

د روح زخمونه مو له شمس اووتل

مه خوشحالیږه لیونی که په مونږ

اسمان د کاڼو باران ته وروي

❁ ❁

څه ته مې زهر خوروه ویته کښې

خو چې زما د مینې زور اووینې

مرګ هم د نیمې لارې ستون شي زغلي

❁ ❁

اسمان بلنې د راتلو راکوي

ستورې ګډا کوي په ساز د مینې

څو چې سواره شو د هوا په اډګو

رب دې ژوندی لره خوځهٔ اووایم
دَ کمتو کور دې زړهٔ دَ کانې کړلو
مینه اوس تا باندې اش نهٔ کوي

❁ ❁

شیرینې مهٔ ځه دَ هوا مخې له
چې ستا دَ زلفو خوشبویي شي خورې
په اورکښې اوسوزې وږمې دَ ګلو

❁ ❁

زړهٔ په بلا بلا مزې غواړي خو
طوفان دې، مهٔ اوځه له کوره بهر
دَ خپلو زلفو دام کښې ګیر نهٔ شې

سپوږمۍ له تانه یو تپوس کومه
په نیمه شپه د سمندر ننداره
رانیسي ولې د اسمان لمنې

د غټې غوښې نه پرهېز کوه لږ
وازګه دې ډېره په بدن اوخته
نیمبو نچوړ کړه د قهوې پیاله کښې

د خوددارۍ د اسمانونو مینځې کښې
ځکه زنګین مه جوتې خورمه زهٔ
چې ما جوته د چا خوړلې نهٔ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جذباتي شوې ځان به اونه مومي
دَ خپل رفتار تېزي دَ لاس لاندې کړه
اُس دَ ځوانۍ دي واګې اونه شلوي

❁ ❁

دَ زړهٔ دَ درد منزلې سر خنګه شي
مېنه روانه دَ اوبو غوندې وي
ژوند خو دَ واورې چم دے زر ویلې شي

❁ ❁

په سمندر کښې دېر مرېر شي غرونه
ته چې پستې پستې خبرې کوې
زړهٔ مې دَ کاڼي په رنګ ټوټې اونه چوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوندے ستا د لیدو په امید

وي د نمر د پلوشو سپوږي هم

تیاره څاپیره په کودر خوږدي

اوس خپل وس خپل اختیار کښې نه یم

ما چې رنګینې لوبې اولیدې

د زاړو سپل ځان سره یوړمه زړه

ستا د بنا ښت لبې مې مرې په زړه کښې

خپله پسته سینه کښې زور راکړه لږ

د ژوند دا شور مې چرته کانے نه کړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناز شمله به مې راټیټه نه شي
نمر چې پرېوځي نو زما شیرینې
شفق شفق څادر به تا غوړوي

❁ ❁

تا چې تر منځه لوپټه اووېسته
سپوږمۍ زما او ستا شوې لارې جدا
ته به فانوس زه به ناموس پسې ځم

❁ ❁

پوی شومه اوس چې ښتنه بیغله یې
مات چې کړل ما ستا د زندان سیخونه
تا د پیښو ښنجې به ما خښې کړي

Scanned by CamScanner

دَ پاغوندو باران لمبه لمبه کړم
زړهٔ لا په دې فرېب کښې ګېر ومه چې
دَ واورې غر لا وا نوستلے نهٔ شي

❀ ❀

کله ګوټکېږي دَ سندرو ژبه
ډېر که ئې غرونه په شا او تمبوي
اودرېږي نهٔ دَ اوازونو سفر

❀ ❀

زمونږ دَ کور چت که راڅڅي په مونږ
شکر په دې خېره هم اوپاسو
چې په تالا مېدان خو پاتې نهٔ يو

له حده نه نهٔ اوځم خوځهٔ اوکړمه
دَ هاغو نرمو ګلورینو شونډو
جوته چې اوڅکمه، جوته جوته شم

❀ ❀

اودرېږي نه دَ قیامتونو سفر
خو چې په کور کښې جینکې پېغلې شي
اواز دَ تندر غورزېدو واورمه

❀ ❀

څنګه شي ختم ازمېښتونه دَ ژوند
چې یارانو نه دَ سپرلو کښېږي نو
یو سي شیبې دَ لوګو رنګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زهٔ فالګی ته لاس په څهٔ اوبنایم
ستا د تندي ګوښې لیدلي دي ما
زما د لاس کرښو کښې هیڅ نشته دے

❁ ❁

د کمپیوټر نه مې پوښتنه اوکړه
اوبهٔ په څانګ باندې بېلېږي که نه
دې کښې یو پلار په څې دزې اوکړې

❁ ❁

لا د ادراک منزل نه ډېر لرې یُو
یو نسې سترګو نه خوبونه زما
د ورک نظر تعبیر مې مهٔ راکوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د قتل تور در پورې مهٔ شه

تهٔ چې په کږسه کږسه خاندې جینۍ

پام کوه ماته زاتر غاړه نهٔ شي

❁ ❁

کړې مې یوازې د ماښام تیارهٔ کښې

چې خپل غرور تر ښه لمبه پورته کړې

بیا مې په سرهٔ غرمه کښې سپوږۍ نیسي

❁ ❁

دا چې د غر په چینه څهٔ شوې دي

ستا د پیښنیو شړنګ را اونیسي او

بیا مې تر لرې انګازې خورې وې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ به ډوبېږي په ساحل کورونه
چې خاموشی دَ غزالیو سترګو
دَ سمندر دَ شور بنیاد ایښے دے

❁ ❁

ستا نه قربان شمه زما شیرینې
تا چې زما په شونډو خوله ایښې وه
هاغې ېوې لمحې مې ژوند خاوري کړو

❁ ❁

دَ موسیقۍ لمحې خپله ژبه نهٔ وي
پکښې مدام ستا سندرین خیالونه
دَ ژوند رنګونه، تصویرونه وېشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې شم پوے دَ اخترونو په خوند
کشتۍ کښې ځي، شي له نظره پناه
او زهٔ دَ سیند په غاړه ناست پاتې شم

❁ ❁

دَ سروې اونهٔ چا ته نهٔ ښیتېږي
ده قدرمنده په دا حال، کښي نو
نهٔ خو میوه نیسي نهٔ سیوري لري

❁ ❁

ځه چې دَ ستورو په لټون کښې اوځو
رانه چاپیر دَ سمندر اوبهٔ دي
دَ ځنځیرو مینځ کښې ژوندون تېروو

Scanned by CamScanner

ستا دَ داتلو ښکالو خوره شوله جوړ
دي چې دَ ټول کلي غوږونه ولاړ
دَ زړهٔ درزاء مې نوره هم تېزه شوه

❀ ❀

جوړه تېره تُوره دَ نمرخېړه شي
راشي په مېنځې اوښلوی ټال دَ بوډۍ
دَ پسرلو باران مې لا ژړوي

❀ ❀

دَ شین اسمان باران په شړق اوکه
په کومه ورځُ چې دَ ګیدړ وادهٔ وي
ښارسې په سس دې اوښهٔ وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



منه اوږدهٔ باڼهٔ دې مهٔ پرندوه
ستا شاهيني نظر چې پورته شي نو
وايم که باز چرته مرغۍ اونيوه

❁ ❁

زهٔ مختورن نهٔ يم شيريني زما
دَ اوښکو پړق مې ستوري هم تت کړي خو
تورې چشمې په سترګو کړي دي تا

❁ ❁

خپل احساسات مې په غور څنګ داسې کړي
چې دَ سرخکو سېل راپورته شي نو
زهٔ دَ اسمان غاړو کښې والوځمه

Scanned by CamScanner

شیریني څه! رب دې ودانه لره
ستا په کنځلو مې زړه نه بدېږي
ما د سیندونو روانې لیدې دي

څه که یاران پرې د سپېلي ورېږي
چې د غمو تاؤ تر بېنه رس وېښتې وو
د هاغو اونو پاڼې شنې نه شولې

څوک هېر وله شي د ژوند حادثې
هوا چې لمسي پاڼه هم خوزوي
وېم که جونګړه مې طوفان یوړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائې منمه چې سړې ئې شریف
خو ژوند هم ځان له غرقولے نهٔ شم
ستا نه خو ستړکه دَ چا هم نهٔ ړپي

ستا په سر کلي سره شر کړمه، خو
بې وجې څنګه چاته لاس واچوم
اوس څوک په اوچه هم لامبو نهٔ وهي

د هر لوے عذاب دے دَ احساس محرومي
زهٔ خوځهٔ ستا لار کښې ولاړ نهٔ دمه
تا دَ موټر لمارن په څهٔ اووهه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ د دردونو د صحرا تنده يم

ساه چې مې کله په وتو شي نو بيا

خدائے شته له شرم نه اوبه اوبه شم

✿ ✿

د تعبيرونو په فريب تېر وتم

ما چې په لاس کښې لنوکې اونيوه

نو د بناسُت رنګونه ټول والوتل

✿ ✿

جوړه کړي قيامت د لوپټو الوتل

ستوري داکوزشي د ګودر په غاړه

او د اوبو څاڅکي اسمان ته رسي

Scanned by CamScanner

سوچ کښې شې ورکه چې در یاد شمه زه
ریموټ په لاس کې وي ته ناسته وې او
چینلې هسې بدلوې لیونې

✿ ✿

که دې په زړه کښې وي ارمان د مینې
هلته راځه په بېرته بیا ځې ته چې
د پوخ سړک نه کچه لار بېله ده

✿ ✿

د سمندر طوفان مې ځان سره وړي
ستا نرګسي سترګې را یادې کړمه
پورته د ستورو چم ته او خېژمه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُسن دَ مینې په خوند څه پوهېږي
ستا دَ یوې خندا نه زار شیرینې
خورې ورې دَ کهکشان سلسلې

❀ ❀

اوښکې دې اوچې له بڼو کړه کنې
دا دَ احساس چپه به تا ورکه کړي
غمې تیندکه مه دَ صحرا شګو کښې

❀ ❀

ځان رابرڅېره کړی دَ زړونو درزاء
دَ محبت اواز خو نهٔ ورکېږي
اوس هم فضا وائي زموږ سندرې

Scanned by CamScanner

کاږهٔ خاپونه دې زما شیریني
نوي دلدل کښې دَ ژوند خخه نهٔ کړي
مخ را ښکاره کړه چې یو لار را اوځي

❁ ❁

اوښکې خو کاڼو کښې هم لارې کوي
خو چې نرمې پکښې را تغله ذره
دَ اوچې دم دے څوک ئې څهٔ اونیسي

❁ ❁

زړهٔ مې یو درز کړې چې دَ کلي غریب
بېکرې تک وهي اور اونګوي
په نیمه شپه چرته قیامت رانشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټک وړکول خو وي فطرت دَ لـــړم
خدایه شته چې یو ورځ به دې مړکړي په چا
دَ ده مې لور څه فرښته خو نهٔ وي

❁ ❁

ساه چې دَ وختاجیس ته راکاږي څوک
داسې دَ زور سیلۍ را والوزي چې
په بله واړوي دَ چم کورونه

❁ ❁

کاڼي دَ غرهٔ له سره اورغړوي
چې ځ په لاندې څې کورونه وران کړي
خو دَ طوفان دَ زړهٔ نه تاؤ نهٔ اوځي

Scanned by CamScanner

ته چې د سیند په غاړه کور جوړوې
ډېر مبارک دې شه زما تسیینې
خو که سېلاب راغی نو بیا به څه وې

❁ ❁

ښځو ته اوګوره چې وایي شلوې
د کټ په لنګه یې بورقه پرته وي
په یوه خیمه ګرځي په ټول کلي کښې

❁ ❁

خو ښه دې خپله خو ویښ مه زه
تا د کولال هنر بې لارې نه کړې
جوړ د یوې ختې نه ټول لوښي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا تورې سترګې ځنګه هېرې کړمه
ما د زړه زړه په اوبو هم اووینځه
خو د لمنې داغ مې هغسې دے

* *

زړۀ چاته سپک کړمه شپېنې زما
د راز خیبر ۀ درته ما کوله
خو ستا د خولې برغولے هم نشته دے

* *

څوک هم د ژوند په خوږو پوهه نشي هېڅ
لکه د ګلي د تماشګې مزدورې
څه د اورو څه د بوټو اورسي

Scanned by CamScanner

تا چې پرې شل کاله خواري کړې وې
هغه تصویر مې کباړي بازار کښې
په یوه نیمه روپۍ واخستو نن

❁ ❁

تپوس کوه مه، د ځوانۍ د مینې
خو په سیلۍ کښې بادیوه اوخته
او د یو چیک سره ئې تار اوشلوو

❁ ❁

زما په خپل زړه باندې وس نه رسي
خو چې د رحمه ستا د چم په اړخ
ته د هوا خپو کښې زنځیر اوتړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ شي عذاب د اسمانونو په لور
هسې چې هم راته سپوږمۍ اوخاندي
ستوري مې وريت کړي په چابک د رڼا

✿ ✿

دا د فيشن جهالت هم اوويــنه
چې الف ته هم کوتک وائي تل
د کتابونو ستهال کښې کړځي مدام

✿ ✿

خوب ته مې نه پرېږدي د تن زخمونه
ژوندے احساس مې تن سره پورې
د ستومانۍ ويښتو سزا راکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وفايي کښې دې هيڅ شک نشته خو
ساه مې اوباسي دَ الفت سادګي
زړ دړله جوړه دَ اوړو پوزه کړي

❀ ❀

سمېږي نه زمونږ دَ ښار جينکۍ
که ترې چاپېره ديوالونه تاوُ شي
اوخاندي زړ دَ کور کړکۍ ښېږ ته کړي

❀ ❀

حُسن په هر رنګ کښې قيامت جوړوي
زلفې چې واړوي له مخه په شا
دومره رنا شي چې نظر اوسوزي

Scanned by CamScanner

اوس چې د شپې کور ته ناوخته ځمه
اووایي رب دې ځواني مرګه کړي ما
جانه! چې بیا ستا نه ګیلې نه کوم

❀ ❀

تل مې تېر یاسي د الفت په فریب
بد دې بلا د تورو سترګو ازار
زه په شینتغه ښځه واوړېدمه

❀ ❀

وایم چې ښکل دې د تندي کوبجي کړم
زړه کښې چې هیڅ د مینې تاو نه لري
مړاوي به څه شي د کاغذ ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته رایاد ستا د لهجې خواږه کړې
اوس چې د هر چا تېلي فون راشي نو
خدایږګو زما د زړه درزا تېزه شي

❁ ❁

شیرینې زړه دې لاندې باندې نشي
اې چې ټوټې تمانچه کړ ځوي
خدای شته ویرېږي له هاکې د ډزه

❁ ❁

ستا د خپلوۍ ارمان مې هم اورېږي
خو ساه چې اووته د ګل د زړه نه
نو سرتور سر مې خوشبوي اولېږې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدلې نهٔ شې د بناسُت رنګونه
تهٔ کوږ اګې ئ د فطرت لاسوکښې
د موسمونو په فرېب تېروځې

❁ ❁

يوه لحظه چې هم هوا بنده شي
د زړونو شور د غوږ پردې اوشلوي
ما د خُنکل طوفان کښې مهٔ کېږوه

❁ ❁

د طوفانونو زور په شا تمبوي
د محبت يوه نازکه خندا
له تاترې د سترګه هم پورته ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خو چغې هم ګونګې شي په خوله
دَ اوازونو دا ویجاړ کلي به
دَ خاموشۍ په ژبه څوک پوهېږي

❀ ❀

خوند کوي څومره سوزېدل مینه کښې
چې سروې پېغلې مې نامه اخلي
اورونه واخلم دَ چنار اونه شم

❀ ❀

څوک به دې اووژني دَ خپلې وېرې
اوُ به خورې سر چې ازمرئ ته
هسې غږ مه سپړې دَ لومبړ بچیه

Scanned by CamScanner

خدای شته هیچا ته ملامته نه یم
که د مینې په تول روان یمه خو
د خپل رفتار سلسله نه ماتوم

❁ ❁

داسې د هر ستوري لټون مه کوه
پام کوه کور دې غرغنډې اونکړي
اورونه کړي د رڼا جامه کښې

❁ ❁

د فطرت ناوې څومره ظلم دے دا
ځان ته غاړه شي د نمر پلوشې
په چا رڼا کړي، څوک په اور سوزوي

ستا خود سرۍ خو په ما سرګرځوي
که چنګنړي ته هم کوږدن شولې ته
په چم حصلت کښې به حلوه او وږشم

ښېرازه پېغلې دَ وادهٔ نه وروستو
خوند دا سې دا روي تپوس مهٔ کوه
لکه کتهوۍ کښې چې کبان پاخهٔ شي

حد ماتول وي هسې ځان درکول
آخر به ماته شي يو ورز به اوکړي
څو به هوا په يو کنهۍ کښې پوکي

بیل چاله ورکړه دا بچې غمېزه کښې
دَ خاورې خوند زما په خوله کښې دے لا
زهٔ ستا دَ کوڅې په خوږو خټه کوم

اوس که څهٔ وایُم ګنهګار به شمه
هسې په ما باندې تهمت لګوي
خپله خندا دَ ګل په وس کښې نهٔ ده

نو لے چې مار له په مرۍ غلے شي
دَ غوږ پرده مې دا آواز وشلوي
ژوند ګوډاګے دے دَ فطرت لاسو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملې نهٔ شي دَ خوانۍ زورونه
دَ سمندر دا کم ظرفي اووينه
په يو غورځنګ باندې اسمان ته رسي

❁ ❁

چې دَ بچي ژړا رايادهٔ شوله
زهٔ ستا دَ لارو نه واپس راغلمه
بيا مې ځنګل ته ازمرے اوشړهٔ

❁ ❁

مسافرۍ دومرهٔ اساني نهٔ دي
چې چکر ونو کښې دَ ژوند راغله نو
سپوږمۍ ته ګورهٔ نيمه پاتې نشوهٔ

Scanned by CamScanner

په نیمه شپه ستا د راتګ انتظار
پروت یم چې ویښه د اسمان د لاندې
لا دې په ما باندې څلې جوړوي

❁ ❁

لوتږه مې مهٔ د دلاسو په فریب
پړوا مې نشته که له تندې مرمه
دا له غلبیل کښې اوبهٔ مهٔ رانیسه

❁ ❁

چې معمولي تبه په ما راشي نو
ویښه مې ناسته د پالنګ سرته وي
په سر مې ټوله شپه زورونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو قيد کېږي نه راځي عشق
که دَ ښائست جوبن دي تېر شو نو څه
مړاوي لا نه دي ستا دَ ياد ګلونه

❀ ❀

د ښائستونو يې بلا واخلمه
چې په دروغه ترېنه هم خفه شم
خوب ورله نه ورځي بيا شپې رڼوي

❀ ❀

ما يې تر منځه روغه رانه وسته
زه دوارو ډلو خپل دښمن ګڼلم
لاړ په پردي شر کېږي سر او خوره

Scanned by CamScanner

یو دردېدلي پښتون ماته ویل
ما د مړاني انجام هم اولیدو
ځکه ویښ یمه د خپل سپوږي نه

خدای شته چې مرګ مو هم وړلی نه شي
چې مو شیندل سرونه، لارکښې د حق
د کربلا تاریخ مو بیا نوې کړو

راټیټوم د اسمانونو غرور
په سر مې توره اوږانده ده خو
د سر بازۍ لوبې مې پرېښې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دَ غریب صحرا کښې نهٔ تېرېږي
زخمي احساس په اخر چرته اوړم
ستا دَ تصویر سترګه ړنده اوخته

❀ ❀

دَ حبس نه مړهٔ نهٔ شو شیریني زما
تازه هوا به اوس په کومه راځي
هاغه یوه دروازه هم پورې شوه

❀ ❀

شیرینه دا هم اورېدلې نهٔ شي
ورته چې وېم زما ېرې خوبنه ده
زر شو نړۍ او چې انګړ ته اوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې سپوږمۍ تندر نیولې ده جوړ
پړده کښې نغښتې پلوشې دَ نظر
زما په زړهٔ باندې تیارهٔ راولې

❀ ❀

څان تړښه تل په فاصله ساتمه
خو بیا چې هم آرام ته نهٔ پرېږدې ما
زړدې وادهٔ شي چې ترې خلاص شمه زهٔ

❀ ❀

منه دَ طمعې کور خالي وي منه
څهٔ په جرګو باندې صحرا ته دَرُونه
باران چې راشي نو طوفانُ ئې اوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د رقیب په خوله باور مه کوه

چرته په خر باندې هم ناست نه دی کنو

وائي جهاز کښې مې سورلي کړې دي

❁ ❁

د پېغلتوب مچۍ راپارې نه کړې

بلا موده اوشوه شېرينې زما

چې هره خوله مې په خوله ایښې نه ده

❁ ❁

د ناوې توب نخرې دې نه منمه

مه وېسه پلار کره د تلو خوبونه

اوس خو د شلو بچو مور شوې نه

Scanned by CamScanner

ا دَ طلاق دَ نوم نه مرګ ښځهٔ ګڼي
خو ازادي ئې دومره خوښې دي چې
چرګ چې هم بانګ اووائي بام ته رسي

❁ ❁

هاغه خوبونه ما نه هېر نه دي لا
لاس چې به تا په سينه کېښودلو
او کوړکو چرګو به هاکۍ شاربلې

❁ ❁

نور مې ماتم په بې وسۍ مه کوه
ستا په ښو چې اوښکي اوښکي شي ژوند
شغله شغله ستوري په ما پرېوځي

که ئې ګواښونه دَ نظر لیدے وے
نو مشرانو به وېشلے نهٔ وو
جنګ نهٔ بایللے نه ګټلے بنهٔ دے

❀ ❀

نهٔ مې رانیسي او نهٔ ځان راکوي
دَ مـــداري لور ده شیرینه زما
پړے راسست کړي پړے راکاږي بیا

❀ ❀

څي خپله نیولے راته اودرېږي لـین
نو دَ بناښت سپړلي تلوار اونیسي
خانه به وشي چرته کړه اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسي سیند خوځان کولی نهٔ شم
یوه دَ میني سندریزه ځپه
او بو را اوړي وه او بو یوړله

❁ ❁

شیریني خو مره زړهٔ راښکون وو یکښي
تا مې مړه باندې ځاړهٔ راښکله
او ما دَ نوي ژوند تصویر ښکلو وُ

❁ ❁

سوځ مې کاوُ څومره بې رحمه دَ ژوند
بر بو کوه مې کړې دَ سیند په سینه
بیا راله یو لحظه کښې سر ماتوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ګلونه مې راوړلي دوخو
چې ته رانغلې نو شين ينې زما
کاڼو په ما پورې خندا اوکړله

❁ ❁

څهٔ خوندور دَ مينې جنګ دے کنه
زهٔ چې ترې پورته په کوټه اوختم
اُ دَ اشنګن مېنځ ته راکوزه شوله

❁ ❁

دَ مخ سرخي مې په اوبو لاهو شوې
داسې بدل کړم از مېښتونو دَ ژوند
لکه چې سرو سرهٔ پاره اولګي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منافقت دَ ژوند وژلمه خو

نن چې ماشوم بچې په مخ ښکل کړمه

ماوې که مانه فرښته جوړه شوه

دَ چهت پکې بې حده تېز تاوېدهٔ

چې ورله مخې له مرغۍ ورغله

ماته یې خپلې بې وسۍ یادې کړې

ښهٔ ورته پته ده خو غږ نهٔ کوي

اُف دَ کوچوان کاکا ټانګهٔ کلې کېږي

لږه ورځ څومره حادثې زېږوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو امکان مې دَ خپو لاندې دے خو
چې ستا اوږدۀ بانهٔ را برند شي په ما
دَ خپل ایجاد لاره کښې خنډ جوړ شمه

❁ ❁

دَ لوښکو مینې مې ژوند خاورې کړو
چې دَ رنګونو تماشې له تلمه
نو دَ بنائست کلې کښې سپومات کړمه

❁ ❁

لوږې کوه نهې درته غږ نهٔ کوم
ستا دَ فریب فریب بنائسته لوګے
زهٔ دې دَ ژوند په حقیقت پوے کړمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېم که څوک ماته اوازونه کوي

په نیمه شپه رانه خوبونه تېښتي

بیا به پېریان بوتل کښې نهٔ بندوم

❁ ❁

چُپ مې دَ ستړګو نه راغلې وو خو

چې راته وېل تا ئې صفت کړے دے

ځکه په خپل تصوير مئين شومه زهٔ

❁ ❁

دغې چکر خو زمانې اوخوړې

ستا دَ رفتار مخه نيولے نهٔ شم

ځُم چرته ځان له بله لار ګورمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې زما په شا ولاړه وې نو
زه د خپل ځان نه خوزېدلے نه شوم
ستا بېلتانه مې ځکه ملا ماته کړه

❀ ❀

ناوې زما مانه خوشحاله څه شي
کش چې شي تېزه مې درزا شي د زړه
د بنا پېړ و وطن کښې ژوند تېروم

❀ ❀

خپله خپل ځان راټولولے نه شي
د اباسين چپې به هېرې شي ستا
که دې رنګونه د اظهار اولېدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای شته په تا باندې مئین یمه خو
مینه د نورو سره څکه کوم
د ژوند ډرامه کښې مې کردار دغه دے

❀ ❀

ستا لوېټې ځان کښې را نغښتے یمه
چې د سفر په نیت روان شمه نو
د هرې لارې په سر تا اووینم

❀ ❀

زهٔ سر د لاندې راګوزار نهٔ شمه
نن د ژوندون د کوهِ قاف لارو کښې
ستا د وجود خوشبوی رقص سکوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره کم ظرفه دَ فطرت ناوې ده
ته چې په لېو کښې اوبه راکوي
واخلمه اور تنده مې لا زیاته شي

❀ ❀

وائې دَ خپل زړهٔ نه مجبوره یمه
که تهٔ مې اور ته هم وراچوې نو
دواړه لاسونه به دې زړهٔ ښکلوم

❀ ❀

دَ سپو نه ځان خلاصول ګران خو نهٔ دي
بس یو هډوکے ورته واچوه نو
دوي به پرې خپلو کښې جنګونه کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو اعتبار خاورې شو
دَ امتحان مرحله تېره نهٔ ده
چینجي غونډېږي دَ کابل مېوه کښې

❁ ❁

په خپلو وینو ئې لاسونه سرهٔ وو
یوې ماشومې په سلګو کښې ویل
توبه، نکړېږې به بیا نهٔ غواړمه

❁ ❁

زهٔ به دَ څهٔ نه توبه اوباسم
یو خوا روا کارونه نهٔ کوي څوک
بل خوا حیا راځي شرمېږمه زهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان به په اوښکو کښې را اونغاړمه
د ګلاب پاڼه به کښتې شي زما
بیا د سیند په سر هوار ګرځمه

❀ ❀

سمندر رونه مې خوټکېږي زړه کښې
په دې طوفان کښې چرته ورک نه شمه
ته مې یوه اوښکه لیدلې نه شې

❀ ❀

زه چې د خپل ښکي ژړا اووینم
هیڅ په ځان پورې نه شمه پاسه زړ
ځان د مور غیږې له وراورسم

Scanned by CamScanner

بس خو ایمان دې خدای نصیب کړي زما

زه نه ولي یمه نه پیر فقیر یم

زما په قبر دې میلې نه لګي

❁ ❁

لمبې دې د مینې په خوند پوې نه کړمه

ستا نازبینتوب له سره خلاص نکړي ما

پاسه د مور خوا له دې ځان رسوه

❁ ❁

د لوږې تندې نه به مړ شې اخر

لمغې سپین بږیرې مزدور ماته ویل

د لوږو کمتې ته څو لاس نه نیسي

دا هم د خان سره دهوکه ده یوه
اوبدي بچي چې مې په خوب اوده شي
لاړې مې تېرې شي زه ساه واخلمه

❁ ❁

وائي زه خپل پالنګ ته خان رسوم
نوره بېخي ایسارېدلے نه شم
ستاسو کتونو کښې کتمل شوي دي

❁ ❁

زه له دروغو نه نفرت کومه
خو له وطنه چرته اوتښتمه
خلق مې وژني که رښتیا وایمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته د کور لاره هم یاده نهٔ ده

تا چې ورونه د زندان لرې کړل

اوس به د زړهٔ دردونه چرته اوړم

ښهٔ که د شپې د بلا خوله وازه ده

خو زما لارې له راتللې نهٔ شي

زهٔ ستا د سترګو په رڼا پسې ځم

دلته په یو حال کښې هم خبر نشته دے

څوک چې له غاره د نفرت راووځي

د محبت توره ئې سر غوڅوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راباندې پوهه ده څکه مخ وا ړوي
که خپل غمونه ې پېرزو کړل په ما
مړ به له ډېرې خوشحالۍ نه شمه

❁ ❁

تا ته ګناه نشته شيرينې زما
که ازمېښتونو نه په شا شوې دَ ژوند
چا په تو ده زمکه قدم ايښې دے

❁ ❁

يو اکائي ده ټول دَ مينې جهان
اوږ ده بانه څي اورکي پاسوي
ستورې په نيمه شپه اتڼ واچوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه دانه اوښه ځې ویرېږمه زه
چې ستا تصویر سره خبرې کوم
مانه زمادَ زړه درزا، هسې ره شي

❀ ❀

ځان چې په ما هسې کوڼ کړے دے تا
اخر به خپله لاره واخلمه زه
تر څو به تا ته اوازونه کوم

❀ ❀

چې ئې دَ زنې خال ته ګوتې نیسم
شیرینه مابندې راسره غونډې شي
وائي زه سپینه یمه توره نه یم

Scanned by CamScanner

زما تصویر ته په ژړا کښې وائې
دَ تورو غرونو پناه شوې ئې خو
ستا دَ راتلو خوبونه اوس هم وینم

❁ ❁

لور چې اوده شوله زما غېږه کښې
راسره غم شو ما وئیل ځان سره
ستا پېغلتوب راته خبرې اوکړې

❁ ❁

ګنې نو ما به څه څه نهٔ وو کړي
خو دَ رشتو مینې کښې راګېر داسې یم
خوب هم پخپله خوښه نهٔ وینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب به دې روغه کړي شیریني زما
ستا بیماري که ډېره هم لویه وي
د رب د فضل وړاندې هیڅ هم نه ده

❀ ❀

د ذهنیت نه ئې خبر یمه بنسه
رقیب چې ستا په حقله سوچ کوي نو
دا په ډېران اُکر بستي بلوي

❀ ❀

زه به ورځم د حادثو مخې له
که مې د ژوند اوربشه پاتې وي نو
دا تندرونه ما وژلې نه شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویړوي دَ دروغژنو رښتیا
چې په اسمان کښې بجلي پرق اوهي
نو طوفاني شپه نوره هم درنه شي

❁ ❁

څسې نه تور مې په لمن پوري شي
ځنو کورونو ته هم سیٔب اونګي
چې دَ اوبو وتلو لار بنده شي

❁ ❁

کومه ښکلا دې وایه اوستایمه
ستا اننګي چې مراوي مراوي شي نو
دَ موسمونو نه خراج اخلي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د سپرلو په ذکر نهٔ ستړي وځم
واړه رنګونه چې راټول شي په ځلے
نو ترېنه ستا يوه ادا جوړه شي

❀ ❀

څه خپله لار نيسه پروا مهٔ کوه
ماښکے چې ځي د اوازونو په لور
نو سمندر ترېنه کشتۍ ډوبوي

❀ ❀

تورة او ډال به غورځولي وو ما
خو چې غښتنې د حالاتو شپه نو
چاپېره پړق د اورکو اوويښم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د بدن ورېږمې دې ښکل کړمه نو
بیا د ګلونو بڼ کښې نه ځاېږم
ما لوګی ځان سره والوزوي

❀ ❀

داسې د ګلې د چینې په غاړه
چې ستا ښائست راله آواز راکوي
زما سندرې به کونګې ځنګه شي

❀ ❀

په خاموشۍ باندې ئې مه تېروځه
د فرېبونو مرحلې غوڅې کړه
چې زور پرې راشي نو آواز به کوي

Scanned by CamScanner

څه شوې دَ کلي او دَ ښار فاصلې
کمځې پرانستې جینکې را اوځې
او طوفانونه سر راپورته نهٔ کړې

❀ ❀

نمانُشونه دَ جلوؤ مهٔ کوې
زمونږ دَ کلي دا کچه کورونه
دې طوفانونو ته دَ ټینګې نهٔ دي

❀ ❀

څوک تر هغه سترګې پرانستلے نهٔ شي
زمونږه چم ته دَ سندرو په ډاډ
هوا راوړي دَ لوپټو سېلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې ریموټ باندې چینل بدلوې
شیریني دې سوچ کښې راګیر شمه زه
د سلسلې دې رانه ورکه نه کړې

❀ ❀

اوس مې تصویر هم پېژندلے نه شم
پر دوه درشلو مې نظر یوړلو
زه د خپل کور په دروازه ننوځم

❀ ❀

اے د باران شپه دې جوړه هېره کړله
کچه کوټه چې څڅېدله په تا
او تا زما د کور زنځیر شرنګوو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کښې اک یوازې ناست یمه زهٔ
دَ کتاب پاڼې اړوم په غمه
اوس مې په سترګو څوک لاسونه نهٔ ږدي

❁ ❁

اووایې ستا خبرې نهٔ ختمېږي
مور به زما میراته پاتې کړي ما
څم چې کونترو ته دانې واچوم

❁ ❁

بې شکه ته ئې زما وهم کنه
خو زهٔ په هیڅ هم باور نهٔ کوم
ما دَ ګنجې لاس کښې ګومنځې لیدې ده

Scanned by CamScanner

ما په مرګ د غوا چاړه راښکله
خو چې مې ستا اوښکو ته پام اوکړو نو
خدای شته زما نه کلمه هېره شوه

❁ ❁

زه به د دریو پوړو هندسې شمارمه
ته که د خپل مدار نه او نه وتې
د خپل خاوند سر به دې غوڅ اووینې

❁ ❁

وایم چې شل ورځې دې زه اُولم
توره چې لاس کښې د دښمن ورکوې
بیا ترې د سر خېر و نه غواړې څله

قاتله ته که ما وژل غواړې نو

بسه په اخلاص راسره مینه اوکړه

زه په ګواښونو دړکو نه مرمه

❁ ❁

زه په الوتې لولکه پسې تلم

لا رانیوه مې چې ازاده مې کړه

ما د مرغۍ خوله کښې ملغې اولیده

❁ ❁

اوس مې دا خور وجود راټول څنګه کړم

چې مخامخ پکښې ولاړه وې دته

نن مې هم هاغه ائینه ماته کړه

ذرې ذرې شي د ښکارې تمه یکه
ساګانې اوځي له تنګو پېغلو نه
ته چې د زړونو په سيل ډزې کوې

❊ ❊

خدای شته چې ځان به په خمار اوچیچم
خو که مې یاد وي د ښائست مسې منې
ستا په کمڅو کښې به ګلاب نه پرېږدمه

❊ ❊

هر څه چې کېږي خو لندن ته نه ځم
د خپلې مور پوې خندانه به زه
دغسې شل شل پي . ایچ . ډیه زار کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حادثه هم معمولي خو نه ده
پېغلې چې ما سره تصوير وېستلو
ګوره زما کېمره کښې رېل ختم شو

❁ ❁

ګرام ترېنه څنګه په خفګان واړوم
لکه د پُت مې ځان ته کلک اودروي
يوه لحظه کښې د پېړو قيصه ده

❁ ❁

شيرينې تا چې ورته ګل لېږه کړو
سينه خونړې شولو په واک کښې نه دې
د ګلي سره خوله ماشومان ړوبوي

Scanned by CamScanner

څنګه راغلې يمه ستا کلي ته
شيريني هيڅ رانه تپوس مه کوه
ما د خپل زړه د پاسه خپې ايښې دي

❁ ❁

سر چې مې خوږ کړي نو شيرينه زما
وايي زه دا د وينو کربنه ګورم
چې د درياب اوبه ئې چرته اوړي

❁ ❁

وه لېونيه له کوره مه راوځه
چاپېره کلي کښې سيلۍ الوزي
په تا به لاړه کښې لمن واړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستومانې لږه ویستل اوغواړي
هوا ئې پاڼې پاڼې خور کړې وجود
د ګل خندا هم حادثه ده د ژوند

❀ ❀

شیریني اوس اووایه څه اوکړمه
ما د خپل زړه د غل نه ژبه پرېکړه
خو ماته بیا هم اوازونه کوي

❀ ❀

پرېږده چې د غمې دې خلق رټي
درته به ګفت قدرې چا کړې نه وو
خو ستا په خوله کښې هره ژبه نشته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې تنکی غوښتنې وس کښې نهٔ دي
که تا پرې سترګې راوېستلې وې نو
داړه به دومره په سر نهٔ ووختې

❁ ❁

دا ساده ګۍ ئې نشې تور په لمن
ګوره چې تېز باران کښې بنګلې جینه
د لوپټې د لاندې ځان پټوي

❁ ❁

پلار دې زما بابا ته بنه کړې دې
که تهٔ زما په خوله باور نهٔ کوې
درشه د مور نه دې پوښتنه اوکړه

Scanned by CamScanner

خبره وړاندې نه پرېکړې ښه ده
داسې چې بوسو کښې اوبه بوځي نو
هسې نه ورسته ترې لانجه جوړه شي

❀ ❀

ته پوه نه ښه نه وې نادانې جینۍ
که لاس او خپه دې لږ هم شي خطا
بیا به د سترګو ګلکېدو نه اوځې

❀ ❀

د کلي دا دستور مې خوښ نه شو لو
سغلې کټوۍ په نغري پرېږدي او
د ګاونډي کره تنور لمبه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

آ چې انګڼ کښې به چړقاوُ کوُو تا
او زهٔ به تاسو کره درغلمه
نو څومره خنتې به ترې جوړې شولې

❁ ❁

په زړهٔ کښې ځان سره کړم رېبمه
دې کښې به خاورې سترګې ورشي زما
پالنګ چې تو له شپه چغار کوې ستا

❁ ❁

خاورې څوک پوې شي په خوند ونو دروند
زموږ وطن کښې چې سپېږ لي راځي نو
لوبزه دَ مینې په اوګو سورهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینګو غونډې ژوندون دے زما
توره تیاره کښې پلوشې وېشمه
د ګلبدنو لاس کښې اور واخلمه

❁ ❁

نن یو سپین بږیري په ژړا کښې ویل
لو نه مې تښتې ایساربږي نه اوس
بیا به طوطیان په کور کښې نه ساتمه

❁ ❁

خاورې به وده زما قام اومومي
اونه چې هم دلته راپورته کړي سر
زلمي یې ځانګې په تبر ونو وهي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا خو دې سترګې غړېدلې نه دي
د ژوند رنده به دې هوار داسې کړي
دا ستغې سپورې به له تا هېرې شي

❀ ❀

د ژوند يوې غرمې دې زور او به کړو
دا حادثې خو به راځي او ځي به
او لا خو ستا د زنې خال تازه دے

❀ ❀

يو د اتيا کالو سپين ږيری بوډا
ګورې په ډش باندې بربنډ فلمونه
او ناست دے لا سو کېنې تسبې اړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې د سیند په غاړه ناست یمه زه
او د اوبو څپې راتاو شي له ما
وایم که ستا د زړه درزاء تېزه شوه

❀ ❀

ستوري چې مانه اړولي دي تا
زه د ساحل طرفته زور کومه
خو د دریاب څپې مې ځان سره وړي

❀ ❀

نن خو مې ټول بدن دردونه کوي
شیریني غېږه کښې مې کلک اونیسه
که ستومانی مې د وجود اووتي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ ګل فروشه ، زهٔ مئين د ګلو
ستا او زما نظر کښې ډېر فرق دے
تهٔ په شپېلې زهٔ په شپېلو پسې ګرځم

اووائې دا فضول خرچي نهٔ منم
هاغه مېړمن مانه خفه ده په دې
هفته کښې دوه ورځې پانچې خورمه زهٔ

ساده جينئ ګرځي هسې ځان ولې خوري
هغوی د شمعې وجود څهٔ اوزغمي
څوک چې په ګلي کښې سکارهٔ پېټوي

Scanned by CamScanner

پېغلې زلمي د ښار د پارک په خوله کښې
څو مره د خپل مقام نه لاندې راځي
چې د موټر تورې شيشې خېژوي

❀ ❀

لمحې د ژوندون غوښتنې نه بېرته نو
خدای شته چې سل کاله په ورستو لاړو
موږ چې يوه ګېنټه ګړۍ وړاندې کړه

❀ ❀

دا بې حسي به ما نه ساه اوباسي
د ژوند احساس پکښې غور ځنګ نه کوي
ستا د ځوانۍ تصوير په خوب اوده دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو رو مې تا نه اعتبار پاسېده
ستا محبت هم اخبارې بيان شو
د پروف خامه پکښې بلا ډېرې دي

❁ ❁

د ژوند په داسې مرحله کښې يمه
هر يو ماشوم چې راته اوخاندې نو
زما پرې مينه د بچو ماته شي

❁ ❁

چې يو طوطي مې بنديوان اوليدو
وېل مې کس جوړ په پنجره کښې شومه
رب دې وزرې د چا نه پرې کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په اسمان کوړې وریځې راشي
ماته د هاغې چم قیصه یاده کړي
چې اوسېد ونکې ئې سیلاب اوړي وو

❀ ❀

خدائے شته د کورمې دروازه نشته دے
خو زۀ راکښې په دې فریب کښې یمه
چې هواګانې ماته ور ډبوي

❀ ❀

زړۀ مې درز بڼي چې ئې اونۀ وینم
د سمیّه او د نعمان مینه مې
په خپل حسّان باندې هم ماته نۀ شي

Scanned by CamScanner

په خیال اوباسه ستوماني شیریني
څه بې حجابه دي دَ نمر پلوشې
ستا تصویرونه په دېوال جوړوي

❀ ❀

درنې وریځې په اسمان شوې خورې
اوس دَ ځنګل نه په تلوار را اوځه
دلته دَ تندر غورزېدو وېره ده

❀ ❀

اے دَ رنګینې لوېټې مسې منې
ته چې اوده ئې او سیلۍ والوزي
وېم که هندو رانه کشمیر یوړلو

دَ ګودرونه دَ ښائسُت بَلبَله
چې دَ اوبو څاڅکي را اوري په ما
نو چار چاپېر په ګلي اور پورې شي

ته که سوره شوې دَ هوا په اوګه
خو دَ اثر نه مې وتلې نه شي
زما دَ اس رفتار به تا لاندې کړي

زه چې سر تور سر جینکۍ اووینم
په زړه کښې ځان سره کړم رېبمه
دَ وخت طوفان به مونږه چرته اوړي

ما له زما دَ سوال جواب راکړه ته

مېرمنې نیت که دې صفا وي دَ پېیں

بیا په وینبتو ولې حضاب لګوې

تا چې زما په لاس دستخط کړے وو

داسې شو وران لکه دریاب دَ کلي

ګېده کورونه په اوبو لاهو کړي

ځان مې په اور پورې نیولے دے بس

که زما سوی مخ ته پام نهٔ کوې

ما سره هیڅ نشته ثبوت دَ مینې

مینې د ژړې مازیګر کړسه زړه
تا چې سوې پوړۍ را خلاصه کړمه نو
یوه لحظه کې ژوانه شپه تېره شوه

❀ ❀

غم زما زړه داسې خوښ نه دے
وړې چې ځان پاندې خواره کړې دي
خو د خندا هسې چې زړه نه شولو

❀ ❀

دغه احساس په پټو اوږي ما
پېغلې چې هسې هم تندي کړوي
دایم که ماته سلامونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که زهٔ مرمه خو خوازهٔ به وېښم
یوې کمزورې د انار اونې نن
یو زور اور طوفان په شا تمبوُ

❁ ❁

نن مې جوړ بله خودکشي اوکړله
ستا لوېتې نه چې مفلر جوړ شو لو
زما شمله نوره هم هسکه شوله

❁ ❁

دغه علّت به تر پته خښکه اوځي
د بېدارۍ نغمه چې وایمه زهٔ
زما د قام زلمي په خوب اوده شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کاڼو ښار دې ګوري پام به کوي
بیا به خپل ځان راتو لولې نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❀ ❀

دا خپل ښکاري قطرت به ما ړوبوي
چرته چې اوویښم روانې اوبهٔ
وېم که په زاڼو پسې منزې وهم

❀ ❀

ګوتې په مروړې بیا، خوښې به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچې دم دې ګوري
وه لونګه په فاصله ترې اوسه

Scanned by CamScanner

ژوند د بقا د اندېښنو مېوه ده
که د تخلیق شعور ښځې نه لري
نو چرګه ولې په هاګو ناسته دې

❀ ❀

د موسمونو جیب اوخوړې جوړه
د ښار ښځه بنګله چې ته پرېږدې او
د کلي شاړ کور ته ترې کړه کوې

❀ ❀

نو د کېبل تارونه مه خوروه
زما د ژوند تصویر ترې نه سازېږي
ستا د تهذیب رنګونه ما اولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کاڼو ښار دے ګورې پام به کوې
بیا به خپل ځان راته لوڼے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❀ ❀

دا خپل ښکارې قطرت به ما ډوبوي
چرته چې اووېښم روانې اوبهٔ
ویرم که په زاڼو پسې منډې وهم

❀ ❀

ګوتې په مروړې بیا 'خوښې به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګورې
وه لوګې په فاصله ترې اوسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دَ بقا دَ اندېښنو مېوه ده
که دَ تخلیق شعور ښځې ته لري
نو چرګه ولې په هګکو ناسته دې

❁ ❁

دَ موسمونو جېبِ اوخوړې جوړ
دَ بنار پخه بنګله چې ته پرېږدې او
دَ کلي شاړ کور ته ترې کړه کوي

❁ ❁

نور دَ کېبل تارونه مهٔ خوروه
زما دَ ژوند تصوير ترې نهٔ سازېږي
ستا دَ تهذيب رنګونه ما اولېدل

Scanned by CamScanner

له دې دښمنو نه بهر راوځه
لا که خبرې ئې زده کړې نه دي
دَ ښاروني مخو که مه پرېکوه

❀ ❀

چې په ځنګل کښې په ماښېږ راغله نو
سپوږمۍ دَ اونو منځ کښې ځان پټ کړلو
ځان ته دَ چا سترګې را یادې کړمه

❀ ❀

خدایه شته زما دغه مطلب خوښ وو
ما چې در یاد کړو دَ مشکنو امېل
په تا نرۍ نرۍ خوله راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا صحبت کښې مې خپل ځان ګانړه کړو
لاس کښې مې هيڅ نشته شين يخ زما
تا له ګجرې له کومې راوړمه زه

❀ ❀

ستا سادګۍ مې ژړوي . لېونۍ
ته له هغوي نه دخپل طمع کوې
څوک چې مدام ګلې کښې سپې جنګوي

❀ ❀

د انتظار لمحې قيامت وې ګلې
زه داسې ځاځکې ويلې شومه
لکه ګلاب چې څوک په اور اونيسې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ئې زما د پلاره کوډ پرېښې وو

ا لیونی دومره نې وسه شوه چې

زما کتاب په کباړی خرڅوي

✿ ✿

د دواړو روغه اوس بلا ګرانه ده

لاره د ژوند تر پېښېله کړې ده ما

وخت په یوه ځي زه په بله ځمه

✿ ✿

نن یو بوډا ته اېسېنې اوویل

ستا د غوږونو ویښته هم سپین شوځو

اوس هم د پېغلو په خندا تېروځې

Scanned by CamScanner

مونږ د صحرا فرېب کښې ژوند تېروو

خاورې سمون او خورې کارونه زمونږ

ناست یو مدام له شګو پرې غرو

❁ ❁

نه زور منو او نه زیاتے کوو مونږ

واوره د امن په فرېب کښې وُرکه

مونږه د باز منبوکې نه پرېکوو

❁ ❁

تازه تازه وې د دالان سپورې ته

پازه ئې مړاوې کړې د نمر پلوشې

پېغلې زمونږ د منې پلانټ غونډې دي

ښکاره کوم ئې د ځوانۍ رنګونه
زه د فطرت ناوې د لاسه نیسم
او په ډولۍ کښې ئې د خیال کېنوم

❀ ❀

شیرینې ګرځم د کالام لارو کښې
چې ستا د ژوند غمې رایادې شي نو
د ګورو اونو بڼ کښې اور واخلمه

❀ ❀

او مه سر به دې د خپو لاندې کړم
په هیڅ فرېب کښې راګېرېږمه نه
زه د مارانو نسل بنسټه پېژنم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څو ورځې وي برداشت به کړم
زه دومره لویه سینه هم نه لرم
چې تل به ستا ماشوم له پېر ورکوم

❁ ❁

زه د ګناه بازار ته هم تلې وُم
خو چې د مور اوښکې را یادې شولې
توبه مې اوویسته واپس راغلمه

❁ ❁

لار پکښې نه مومي د نمر پلوشې
تازه هوا پکښې ښخې نه لګي
د ژوند په داسې تاخانې کښې اوسو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په تشو کتو اور لمبه شي
خو هاغه وخت کښې د پښتو چرته وي
د ښار درزيان چې درله ناپ اخلي

❀ ❀

د اباديه پکښې درک نشته نکي
د شر مخانو اوازونه اورم
په ما په داسې ځاي کښې شپه راغلله

❀ ❀

اوس زه د کلي په ناموس باندې مرم
ما چې مې لور ښکل کړه په دوا ړو مخو
يو د رڼا سېلاب کښې ورک شومه زه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پلوشو سفر دې وړاندې ځي خو
دَ بنا ئستو نو دَ سپوږمۍ انتظار
زما په څنګ تورې حلقې جوړوي

❀ ❀

ستا په یادونو کښې مې ژوند خوندي شو
دا دَ دریاب دَ سر نقشونه نه دي
چې حادثې په ئې دَ ځان سره وړي

❀ ❀

شیرینې ستا خوځلوبې خوښې وې
چې خپلې بدې ورځ ته اوګورمه
نو زما سپوږمه نمرې هم اونغلي

Scanned by CamScanner

هیڅ پابندۍ چې په تا نه لګوي
مخ کښې هروکې راوستلي دي ستا
ته د خاوند آزاد خیالۍ یوړلې

❁ ❁

منم چې ته ما سره مینه کوې
خو زه دې بیا هم خپلولے نه شم
ستاسو د کور چار دیوارۍ نښته دے

❁ ❁

هیڅ ازادۍ راته حاصلې نه شوې
وضاحتونو کښې مو ژوند تېر شولو
مونږ په یو بل اعتماد نه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې ويښل خېلو همزولو ته نن
چې د ښکارۍ د سترګو شمع مړه شي
هله په خپل پالنګ کېنې خوب اوکړه

❀ ❀

ته د کابل پوره ساده پېغله يې
زه خوشحال بابا چې نژدې راځې خو
څه! د بابا پـو زه دې مه پرېکوه

❀ ❀

د ښار مېرمنې ته خبر يې که نه
د يو مزدور ستړے ستومانه وجود
څو مړه دمه شي چې ستا کور اوينې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې منډې ترړې مې د ژوند سترې کړې
سترګو ته ستا تصویر را وړاندې کړمه
زهٔ د وختونو له څکن نهٔ اوځم

❀ ❀

اوس زهٔ ځپله په ځان شک کومه
ټول راته وائي بدعمله ئې ته
مینې زما د ځي ګونه ورانه کړه

❀ ❀

ما دې په سر لوئې دعوې کړې وې
خو تا زما د لاسه لاس رابنکلو
اوس زهٔ په کوم تاخ کښې ډاګه واچوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرق دې اولګې رسمونه د ښار
چې د کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما د هوسۍ کټ کښې ميلو اوليدهٔ

❁ ❁

خو مره بسياره دے درياب د مينې
وېم که ما تخت د سليمان قبضه کړو
پېغلې چې تا ماله ډالۍ راکړله

❁ ❁

د يوې پېغلې بې وسې مې وژنې
تنده ماتېږي نه زما د نظر
ناوې که ټوله د کالو ډکه شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ راته خاندې خو شیرینې زما
دَ ژوند له خپې نه مې باور پاسوې
ستا په ګمځو کښې چې ګلاب مړاوې شي

❁ ❁

دَ هر سپرلي دَ موسېدو نهٔ مخکښې
مونږ دَ نښتر دَ اونو کور کړې وو
دې سړک غاړې خالي ولې شوې

❁ ❁

بوټې چې دي لږ هم په اوږدو پرېوځي
لکه دَ چړګې اواز نه کوي
تهٔ دَ تخلیق عذاب زغملې نهٔ شې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوره راغلې چې ساختني له ئې ته

ستر ګې له تانه څکه نه اوباسم

چې دغه سترګې دې ویستل غواړمه

✿ ✿

زر ده چې شاړې شي جړې د کلي

اوس که زلمي چرته یو ځائ اوینم

خپله درنه او د بل سپکه واخي

✿ ✿

سر توري مه راځه زموږ کلي ته

تا چې په کومه زمکه خپه ایښې ده

هلته د خلقو نه ځا ی اوتې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مرګ په خوله پاندې دَ ژوند زېرے
هلته چې ستا سترګو اننګې اوبو شو
دلته دَ کاڼو نه شغلې اووتې

❀ ❀

دَ ښار بې حسه مرمرينې پېغلې
کله چې ستا بدن خوَله اونيسي
وېم که څوک بُت دَ سومنات لامبوي

❀ ❀

يوې ښارۍ راته سنګوکينې ويلې
تا ته زمونږه دَ ژوند پته نشته
هره دَ ښار جينۍ خرابه نهٔ وي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سمندر څپې شمارلې دي چا
زما دَ غم ما نه تپوس مه کوه
چې ته حساب کتاب کښې تېر نه وځې

❁ ❁

اوخاندې ماته، لېونی اوواېې
ځان دَ ژوندون سختو ته ځکه نيسم
دَ غرۀ لمنه کښې چينې را اوځي

❁ ❁

دَ احساساتو ژبه مه کوشکوه
دَ خوشحالو اظهار دَ ځان دپاره
دا کسرِ امکانې ضرورې نه کښې

Scanned by CamScanner

ځان مې د ژوند پنجره کښې بند لیدلو
چې د وجدان دروازه بېرته شوله
ما د زرګونو کالو لار سر کړله

❁ ❁

څنګه به حق د چارا لاندې کړمه
ما د رېل ګاډي د پایو منډه کښې
د یو مزدور د سر ټوټې اولیدې

❁ ❁

جوړې زما ضمیر په حق اورسېد
ګوره چاپېره اذانونه کېږي
خو د خپل ځائے نه هړو ړق نه وهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې له يې نه راورمه ورزم کوي
تا چې د سود په مال خیرات کړې دې
په ما حرام شه، د خنزير غوښه شه

❀ ❀

لمسي بې ځایه اندیښنو اوخوړي
کنی نو ستا نه کښ چا پېښ شېږنې
قلا هم تاو ده او رنها هم شته دې

❀ ❀

تبه که ستا سر ته ختلې نه ده
پرېږده د مینې په جواب کښې به تا
د خپل کاکا زوی ته کنځل نه کول

Scanned by CamScanner

اُف څه تېره شېبه ده واڼي

دَ هاېکو څو ږ جواب نشته دے

څوک دي اظهار غونډي غزل اوليکي

❀ ❀

هره موقع دَ لوبو ټوکو نهٔ وي

کار چې وران اوکړي نو ښځې مهٔ کوه

هسې نه تاله په مرۍ غلې شم

❀ ❀

زما ناموس له هر څه مخکښې دے څو

دَ خپل قامت پروا دې هم اونکړه

دا مې په کم فهم کښې تصوير ځايوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته خپل خوږن در بخښلی دی خو
دومره را اووایه ښسیږنیږ زما
ته مي د ژوند جواز په څه رد کوي

❁ ❁

څه لیونتاري خپله لاره نیسه
ته ورته مخکښي ورستو کیږي ځله
سپي به په تا پسي زغیږ اوشلوي

❁ ❁

چاپیره کورم او قدم اخلمه
زه د ناموس ساتلو غم کښي مدام
تل د بنکاري د سترګو لار څارمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا شخصیت دَ اوبو څک دے منه
څه که دَ خپل خاوند ناموس نهٔ شولې
بیا آخر ښځه څان ته وائې په څهٔ

❀ ❀

اٰ چې له ورایه به ئې زهٔ اولیدم
او ناګهانه به ئې خوله ګونګه شوه
اوس دَ طوطی په شان خبرې کوي

❀ ❀

ویم که څوک مایاندې کوږې ورَوي
دَ پښتنو ښځې چې اوویسمه
دَ ډګرکې دپاسه خپې واړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم زما دَ سوي مخ شيريني
ښځې په تا باندې اثر نشته خو
ګل دې په لاس کښې پاڼې پاڼې شولو

❁ ❁

يو پنجابي راته پېغور کووُ چې
اُ پښتنه پېغله مدام ما سره
دَ سيکس موضوع باندې خبرې کوي

❁ ❁

پېغلې چې نن ستا دَ دُرشل مخې ته
ماتې ټرندې دي دَ بکسونو پرتې
څا جوړ دَ خپله کوره غلا کړې ده

Scanned by CamScanner

د کائنات د زړهٔ دروازه یمه خو
چې ستا د سترګو رڼاګۍ ته شي
وایم که غار کښې د تیږو بندي یم

ګوتې چې شمارمه په سوچ کښې ورک یم
شپې یې ماته لېونے مهٔ وایه
دا خو زهٔ ستا بې وفایۍ یادوم

ستا د فریب له ژوند نه مرګ ښهٔ ګڼم
د سمندر څپو ته ځان سپارمه
خو د کاغذ کشتۍ کښې نهٔ کېنمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هایِکو ناوې خبره واوره
اوښکه زما دَ بدن تږوله وینه
خو زما قام ته اورکې پړقوره

❁ ❁

شپې یې رب دې په امان کښې لره
ستا به دا اوښکې له ښهو اوڅې شي
خو زه به ښاځکي ښاځکي ویلې شمه

❁ ❁

دَ موضوعاتو لمځې کمې نښته خو
ستا دَ بنا سُت لمن چې نهٔ پرېږدمه
په ژوند دَ مینې حکومت غوارمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر مانځه نه پس دعا غواړي دا
مات يې کړي ربه دَ دښمن لاسونه
زما جانان ته چې تاوان رسوي

❁ ❁

واوره دَ خور او لور ناموس ساتمه
بيا دا سې ما ياندې راځيږه نهٔ شي
ګني نښږه کيني به دې سر پورته کړم

❁ ❁

دَ ښار او بو درنه لښه اووښته
شور چې شي ساز، په سوره ننوځي
تا خو دَ سر دپاسه سر نهٔ منهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې په سترګو باندې ښه نه لګي
ستا ځانګېدلې پرتوغانې خاورې شه
د مخ سرخي دې په اوبو یوړلې

❀ ❀

ته چې ځغې خبرې کوې
زما جانان زما نیازبین ښکېږه
ورځ چې په دوارو مخو ښکل کړمه تا

❀ ❀

اوس راته خپل زخمونه ښايي ځله
چې په یو ځاے کښې ګړ وي جوړ شي نو
بیا پکښې هر څوک په غونډ سکو لګي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به سنګار له دَ ځان چرته درومې
تا چې په کانړې زما ځې ویشتلو
نو اېینه دې د کوړ ماته کړله

❁ ❁

پوزه دې پرې مه شه د قام لیونۍ
دا ته دَ کلي په دې شاړه لاره
او وایه هر مازیګر چرته زغلې

❁ ❁

دَ ژوند دَ هرې کشالې سمون وي
لږ به دې ماته انتظار کړے وے
دومره دَ لوے ټوپ ضرورت خو نهٔ وو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان ته رسم په غور ځنګ دَ مينې
ځان راته خدايګو شاه زاده ښکاره شي
ما چې شيرينه په پنړوس اولي

✿ ✿

دغه شعور ورله ورکړے دے چا
ښکاري چې کوته په کوترې کښې دي نو
پس شي له اونو نه مارغان والوځي

✿ ✿

ما دَ تاوان سودا خو نهٔ ده کړې
وُرک چې دَ زلفو په ځنګل کښې شمه
دَ بينا سُتونو خزانې اوموم

Scanned by CamScanner

د ښائستونو خوب که هم اووینم
د ازغکو ترنځې اوبه اوڅکمه
لمبې د ځوانۍ په خوبونو یو نه شومه

د مورولۍ جذبه دې ستایمه زهٔ
ته چې پردې ماشومان هم اووینې
ستا له سینو نه د پیو دارې اوځي

د کور کارونه درته پنځه پراته دي
غریبه پېغلې سنګار مهٔ کوه
ستا په قسمت کښې شاه زاده نشته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څهٔ ناروا پېغله ده ماته وائي
ستا په سينه به ګکوم منګولې
خو داسې کلک رانه مروند مهٔ نيسه

❁ ❁

زېړګي زېړګي، سلګۍ سلګۍ شيرينې
ما دَ پېښو پنجو کښې خوب ليدلو
چې ښښخانو راته خولې وازې کړې

❁ ❁

ستا دَ رښتيا خبرو تاب نهٔ لرم
نور درله مخې له درتلے نهٔ شمه
زهٔ به دَ کوم کوم سوال جواب درکوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچ تار به ستا په بدن پاتې نه کړي
څو مره وېرېږي په ځان، خورم خودي نه
یو څو شېبې کېته، شېبې دې بس

مینه رښتیا دَ بدن وینه اوڅکي
لا ستا دَ کور مخې ته ناست نه ووم
زړه مې ستومان، خېږي مې مېږي مېږي شوی

څه لیشتینکې مخ دې ورک شه، زغله
اَ دَ چینار چینار قامت مېر منه
تا په کمځو کېنې اوبزانده نکړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ تقدس دَمینې نهٔ رد کوم
خو ما چې چا باندې باور کړے دے
هغهٔ مې سترګو نه راتجهٔ اوړې دي

❀ ❀

بُت دَ رنګونو زما نهٔ دے پکار
زهٔ په ستائینه دَ ګل څهٔ اوکړمه
چې خوشبویانې رانه لار بدلوي

❀ ❀

تورو ځچو راکښې لښې پرېخې دي
اوس چې اوږدهٔ بانهٔ رابرندشي په ما
زما بدن باندې وینسته اودرَوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندي خواږه خواږه راکوري مدام

دوه قاتلاني دي راځي راپسي

ځان له د چا په توره سرغوځ کړمه

❁ ❁

د سترګو تور دي د غزل مطلع کړم

داسي راتول راټول تقسيم شومه زه

لکه د کاڼي په منځ نيم شومه زه

❁ ❁

د ارام سپوږمۍ مي حلواق تېر وي

ډېره که اونه د صحرا ګوره ده

د ژوند په لاسو کښي د مرګ توره ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هاغه ګودر سپوږمۍ دَ شال څرته دے
چې ستا په مخ، زما په زړهٔ مېشته وو
اووايه ستا دَ زنې خال څرته دے

❁ ❁

ددې ماحول جادو کښې ګېره نهٔ شي
چې دَ هوا رفتار کمېږي دلې
رو رو چيچي دَ سمند رتېزي شي

❁ ❁

راشه په ساه ساه کښې مې ستا مينه ده
ستا که باور نهٔ وي زما په ژبه
زما دَ زړهٔ درزا ته غوږ اونيسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دَ سکښې ما بنام تصویر جوړوم
چې ستا څوانۍ ته در نږدې غونډې شوم
زهٔ دَ لمبې دَ سر لوګے غونډې شوم

❀ ❀

ستا دَ بنا نُست خمار چې چلے دے جوړ
ګنې که زهر ئې په تن کښې نهٔ وي
دَ اباسین په خوله کښې څګ ولې دے

❀ ❀

سیلۍ چې کلي کښې راوالوتله
چرګو وزرو کښې راټول کړه بچي
ژوند دَ نسلونو دَ بقا نامه ده

Scanned by CamScanner

خفه په خپله تنهایي نه یمه
خو ساه مې اوځي چې د کور او نه کښې
زه د مرغۍ بچې یوازې وینم

د اوریسنتل بلاک په اوږدلان کښې
زه چې په هرې زاویې ګورمه
د قاتلانو سترګو شیش کښې یمه

د غم چپې د سرې ځې ورانوي
د یوې مور ژړا لیدلې ده ما
اوس د مرغانو بچې نه رانیسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما آواز به دې زړه ته اوچوي
ما په شوګیرس کښې اېښودلے نهٔ شي
څهٔ ډیکو رېشن پیس خو نهٔ یمه زهٔ

❁ ❁

سم راته ښکارې دَ پښتون ښځې دې
اول دې ماته رابېره کړې او
روستو بیا راشي تا په شا ټپوي

❁ ❁

زما دَ مرګ نه سترګه نهٔ ړپي خو
چې حادثې لاره کښې اووینمه
نو دَ جهاز نه په چترۍ دانګمه

Scanned by CamScanner

ټکیا وي توله ورځ کاروانه کوي
خو د جذبو په ژبه نهٔ پوهېږي
ما د روبوټ سره وادهٔ کړے دے

❀ ❀

زما کتاب چې جینکۍ اولولي
اووائي دا زلمے به چرته وینو
دهٔ خو زمونږه نه بهر ویستې دي

❀ ❀

لوږه د مینې په مرۍ غلې شوه
ماته ئې سپوره ډوډۍ کښخودله
پېغلې پښېله پرانې اوخوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې مه څه دغوبل مخې له
بېغې له منځه تر ینه ځان اوباسه
چې تماشګیر د تخنبې منځ نه اولې

❀ ❀

د ژوند پایه څه ناروا تېزه ده
دا هم زما دوه تصویرونه دي خو
دواړو کښې هیڅ مناسبت نشته دے

❀ ❀

رانه یه ساه ډېره په سخته اوځي
وژنے چې ما نو د نیانګست مېرمنې
بیا د کلونو ډالۍ مه راکوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرق دې ګټه او تاوان اوګي
دَ ګل ورېږمې چې پکښې اور اخلي
داسې وطن دې په سېلاب لاهو شي

❁ ❁

زما سینه کښې ئې خپل سر پټ کړلو
زړهٔ ته مې نوره هم راجخته شوله
ویئل ئې مهٔ خَله ماپېریان ویرَ وي

❁ ❁

دلته دَ هر چا په تندي ګونجې دي
ژوند ته هسې چې دَ خندا ورېخښي
زهٔ دَ کاغذ ګلونه هم نهٔ ګڼم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُ که همّام دے که سعود، اسامه
که فائقه که ثوبیه که سعد
ټول مې دَ مینې دَ اسمان ستورې دې

۞ ۞

دَ لوئے قدرت مالکه ما اوبخښه
که اراده مې نهٔ وه جرم خو دے
دَ خپلې مور غاړې شهید کړے دے ما

۞ ۞

رانه غزوه دَ بدر هېره نهٔ ده
که اُخرې ساکانې هم اخلمه
زهٔ به دَ خدائے لار کښې جهاد کومه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خپره پخې نه یم خو څه اوکړمه
ستا په لاسونو کښې چینجي اونشي
په خپله مور هم گوزارونه کوي

❀ ❀

ډېر لوے کړاو غوارې یو والے د سوچ
خېر که مې ښځه په مزاج نه رسي
زه خو لا مور هم پېژندلے نه یم

❀ ❀

زه د خپل قام دانشوران پېژنم
زما په سوال به غلې پاتې شي ټول
او د سګرېټ نه به لوګی پورته کړي

Scanned by CamScanner

درته چې ګورم د خالونو په داغ

د اوښکو زهر مې مرۍ پرې سوي

اسمان د ستورو اديره خونړه ده

✿ ✿

کم اصلي ښځې نه دي او سانه رب

خدایه شته که مړه ئې کړي خونړ سمېږي

د سپي لکۍ به د چا پلار نېغه کړي

✿ ✿

ما چا له سترګې توري کړي نه دي

پېغلې زما په لمن داغ لګوي

رانجه چې پورې کړي نو ژاړي ښځه

پېغلې ویل لاړمه دوبه شومه
زړهٔ په چا سېزي دَ موټر مالکان
بیا به زهٔ لفټ دَ چا نه نهٔ غواړمه

❁ ❁

دا ځنی ښهٔ دَ غاړې غورځي زما
سنګسار سنګسار مې شي احساس دَ وجود
زهٔ چې ماشـومې لور له پړق ورکړمه

❁ ❁

ماتم ماتم شوه دَ ساحل سندره
زما جونګړه جوړ سېزلې ده چا
ما دَ دریاب په سر ایرې اولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه خوبونه تښتولي دي تا
داځه پېريان درباندې ناست دي اخر
په نيمه شپه چې ستا نه چغې اوځي

✿ ✿

ځکه زه ستا په خوله باور نه کوم
که تا ته ياد شي نازنينې پېغلې
تا به مين کاته وکښې ټيکي کوله

✿ ✿

بې ځايه ويرې مو ځوانې خاورې کړه
سرته رسېږي نه کارونه د ژوند
پېغلې راځه چې دواړه مينه اوکړو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم خوږې اوبه دي ـ مخ سپوږې دي
خو دې پړاو ته دَ راتلو نه وړاندې
ډېر مې دَ خپله ځانه اور وېستے دے

❁ ❁

تا چې زما تصویر په مخ بنکل کړلو
وینې مې ټول بدن کښې جوش اوهـ ځ
سمندرونه مې دَ خیال سپوږې شو

❁ ❁

په شوګیرو باندې ستو مانړیو اوس
بېګاه مو ټوله شپه خبرې اوکړې
خو پټ مو اوساتل دَ زړهٔ حالونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لمنه باندې داغ نښته دے
دا خو سپوږمۍ خپله ځواني تا سره
یو څو ساعته امانت ایښې ده

❁ ❁

دَ کوکو پرېشر دې سپوا دے بلا
ساده جینۍ اور ورته مه تېزوه
په چم کښې وندرکښې چرته بم اونځوي

❁ ❁

زهٔ بې وسۍ باندې یقین نهٔ لرم
دَ خپو دَ لاندې په ځ زمکه خو وي
که دَ غریب په سر اسمان نشته دے

Scanned by CamScanner

پېغلو سيندونو ته منګې مه اوړئ
څوک ساه لرونکي ئې ډوب کړي دي جوړ
دا چې اوبه بوږ بوږکې جوړوي

❁ ❁

چې پرېښودلې مې زما اوويني.
نو په خندا اووائي ژاړې ځله
راځه چې زه درله ژبې ماته کړم

❁ ❁

دَ بد نصيبو په دې وران کلي کښې
مرغان چې جالې جوړوي شيرينې
دَ طوفانونو علامې ښکاره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر یو ګل دَ زړهٔ سندره یمه
دَ خپل احساس په درته څهٔ وایمه
ستا دَ ساګانو دَ ورمو نامه ده

❁ ❁

چې منړې ترړې هنګامې جوړې شي
څوک بې ګناه پکښې په سر اوړي
لارو کوڅو کښې وژغېږ مهٔ کوه

❁ ❁

تورو شپېلو نه چې لوګي پورته شي
ویـــــه که ورځ مې دَ وادهٔ ده ګنې
زما یاران ما په پالنګ خېژوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ په دې کلي کښې سړي نشته دې
چې د چا څه زړه غواړي هاغه کوي
چرګه یانګ اووائي چرګ ها واچوي

❁ ❁

زما سندري خوندي کړي دي چا
ځان نه بلا په فاصله پروت یمه
راته نزدې نهٔ شې میراته یه شې

❁ ❁

زهٔ په خپل ځان کښې راتوليږم مه نه
نن دې جوړ خوب د پېغلتوب اوليدهٔ
ستا په بدن کښې ستا جامې تنګي شوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حاسدانو په زړهٔ اور بلوه
کورو به هر څه چې وي غم مهٔ کوه
او خاندهٔ کلکه راتړ غاړه وځه

❀ ❀

دا دَ قيامت ورځه چې هم نهٔ ده نو
چا جوړې زمکې ته خبرې کړې دي
کنې نو ميانديځيل ته چې ولې خورې

❀ ❀

ستا دَ ښېښو شرنګ چې واورمه نو
په نيمه شپه دَ کټ نه پاسمه زهٔ
او دَ چينې غاړې له ځان رسوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کښې زۀ يو منطق هم نه منمه
او منه دا به زما وهم وي خو
زۀ هندوانې سره شوملې نهٔ ختمه

❁ ❁

دَ سامرۍ نسل او سېنې دلې
که ئې په خپلو سترګو هم اووينې
دَ ښخې اواز پسې به غوږ نهٔ اوړې

❁ ❁

دنګې څوانۍ دې دَ اسمان څوکه کړم
چې ابوالهول ته مخامخ شومه زهٔ
نو ستا عظمت راته راوړاندې شولو

Scanned by CamScanner

حُسن په پاڼو کښې رانغاړمه نه
ستا تصویر ونه په ګلدان کښې ږدمه
ځه لېونی زړهٔ په البم څهٔ کوم

❁ ❁

دا خوب به نهٔ وینې چې ښکېل یې شمه
له څانګې چې مې الوځوې
یوه مرغۍ یم پوره سېل به شمه

❁ ❁

زنځیر موږکے، موږکې زنځیر اوخوړهٔ
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړهٔ
نن دې ویښو رانه تصویر اوخوړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه که ځې ګنې په مخه دې ښه
دومره مې زور په زړه کښې پاتې نه دے
چې اوس به زهٔ تا ته جوړې نیسمه

❀ ❀

په خط کښې لیکې جوړې هره دې کړم
بلا زورلے یم دَ مینې تبې
راشه زما دواړه وخکی اووتل

❀ ❀

ته په خوراک کښې ولې خیال نه کوې
لا خو دِ شپږ میاشتې هم نهٔ دي شوې
ستا دَ وادهٔ جوړه په تا تنګه شوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په جولۍ کښې په خوارۀ دراولم
دا ستا ځواني که دَ صحرا تنده شي
نو زۀ به اوُنه دَ کجورې شمه

❁ ❁

څۀ که یو ځلې کړو دَ ژوندون حادثو
زمونږه زمکې، اسمانونه بېل دي
تاسو خېرات غواړۍ مونږ مینې وېشو

❁ ❁

راسره دومره مینه هم مۀ کوه
څوک چې له کوره په سفر اوځي نو
بیا په مړه کېږه خوراک نه کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې دې زر په واپس راشمه
داسې ښه کښې او ښکې مه ځلوه
دَ اسمان ستورې درنه غلا اونکړې

❀ ❀

مینه تر منځه فاصلې ورکوي
چې دَ پسرلو په ځم کښې ساه واخلمه
ستا دَ یدن وږمې ځان سره وړې

❀ ❀

ګټه په هر حال کښې لم ستا برخه ده
ټول عظمتونه دَ اسمان لاندې کړې
چې ستا رابرند بانه وسله غورځوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه د ژوند هره تیارهٔ تمبوي
ستا د نظر مسکې مسکې پلوشې
ما ته په لار کښې اورکې پرقوي

❀ ❀

دلته د وینو سېلاب ولې راشي
ددې وطن وږمه وږمه خاوره خو
مدام ګلونه د چامبېل ټوکوي

❀ ❀

تهٔ د ګلاب د ګل ښائُست ستایه خو
ستا اننګې سرې برخه برخه شي نو
داړه سپېرلي درته په خپو پرېوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا اواره زلفې چې تک ورکړي نو
ډک شي له زهرو نه وجود د هوا
بيا چې څوک ساه اخلي نو سا ترې اوځي

❁ ❁

ډېر شرپسنده ،جنګيالي خلق دي
اوس که له تندې مرمه مر دي شمه
خو زه د دې کلي اوبه نه څکمه

❁ ❁

زه بې ګناه چا سره جېړه نه کوم
تا که لګه ببره کړې نه وه
نو دا ګرېوان به دې شلېدلے نه وے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ بدن خوَله دې اوبهېږي

څه که اسمان درباندې اور وروي

خو ـ څ پوهېږ به رانه پورې نکړې

❁ ❁

راپورته کېږه چې اننګې ته اوځو

راځه باران دَ پشکال ورېږي

که موګرمکې دَ بدن ماتې شي

❁ ❁

ته خفه کېږه مه شیرینې زما

که دا ژورې په ما خولې ګکوي

دَ بدن وینه به صفا شي زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دومره پېغلو دَ زړهٔ سر يمه زهٔ
که دَ يوې نامه مې هم واخسته
ستا دَ تصوير نه به لمبې پورته شي

❀ ❀

چا سره وخت کوم دے چې مونږ اووينې
ټوله دنيا دَ ځان په غم اخسته ده
راځه بلبلې راتږ غاړه ووځه

❀ ❀

دَ اسمان ستورې راته غوږ کېنې واڼې
په خپلو ستړګو کېنې ئې خال دے ځکه
زما په سينه لمن داغ لګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دومره ښکلې جینۍ نه وه لیدې
زه هم انسان یم اخر زړه لرمه
خطا مې نه وه که خطا شومه زه

❁ ❁

دَ محبت بلا چلونه راځي
خو دَ پښتون کور کښې پیدا یمه زه
دَ پېغلو ژوند بربادولے نه شم

❁ ❁

مینه مو نه پرېږدي دَ شپې تیاره کښې
که دَ اوبو په لانجه کښې م ناست یو خو
راپسې ستورې او سپوږمۍ رازغلي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا که ستنې کړې پېلوشې د نظر
زړه به زرغون نه کړې د ژوند فصلونه
بيا به په دې للمه باران اونه شي

❁ ❁

ارمان په غېږ کښې د ارمان ورک شولو
مانه د لاس کړ بشو کښې ځان ورک شولو
د زړه درزاء پسې مې لاړې چرته شم

❁ ❁

زما لباس په ما کښې تنګ خو نه دے
ژوند د نولي او د مارجنګ خو نه دے
کېږ به ترڅو په دې فريب کښې يمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کیتهس سندرې اورېدلي دي ما

ما دَغالب شاعرې هم لوستې ده

ستا دَ یوې خندا جواب نهٔ لري

❁ ❁

دَ ژوند صحرا کښې دَ ښائست میرمنې

تا چې په کومه لار دمه کړې ده

ترېنه روانې دي چینې دَ مینې

❁ ❁

دَ ابینې په مخ سرخې چې ته وې

چې دا شفق شفق کلونه سپرې

دا پرې هم ستا دَ انګو سپورې دي

Scanned by CamScanner

ساده جینۍ ده وائي مهٔ ویرېږه
ستا نه خوږه زیاته زړهٔ وره یمه
پوهېږې نه چې دا مې څهٔ اوویل

❁ ❁

دَ پېغلتوب مستۍ دې ډوبه نهٔ کړي
دا خو ښځې چا سره کېږ نهٔ اولي
دَ سمندر اوبو ته ټوپ مهٔ وهه

❁ ❁

ماتې پېسې چې جیب کښې نهٔ لرې نو
ځان داسې مخکښې مخکښې هم مهٔ کوه
ګنې نو لوټې به درله مات کړمه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پکښې عکس دَ لېونتوب اولیده
سوچ کښې مې ورکه شوه دَ ژوند ائینه
زهٔ چې بیدار شمه، ما خوب اولیده

❁ ❁

حُسن په هر ماحول کښې خیال ساتي خپل
چې فرښتو ترې لاس نیوے کړے دے
اُ گل ماله دَ هسپتال نرسه ده

❁ ❁

سپوږمۍ که تا خپله هاله ماته کړه
اسمان ته وایه لاړې ډوب يې کړې
ستوري دَ سیند تل کښې هم سترګې وهي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ازمېښتونه مې د ژوند دانيسي
کښې نو زړه نه مې لمبې پورته شي
مور چې د تې نه خپل ماشوم پرېکوي

❀ ❀

ستا د نظر مستۍ لا هو نه کړې، ما
زړه کښې مې مينه غورځنګونه کوي
او سمندر سره روان يم له زه

❀ ❀

غاوره پېغله خپل غرور دوبه کړه
چې لېونې سپې خوله ورواچوله
اوس يې په ګېډه کښې کوترې شوې دي

Scanned by CamScanner

سرهٔ لوښته دې په ما مهٔ غورځوه
ویښ پرېږدم مانه چرته هېڅ نهٔ شي
زما نظر څه سیلانے غونډې دے

❁ ❁

ګڼ اخترونه شي چاپېره له ما
دَ صائمې دَ سترګو برق چې وائي
روژه کښې سیّد الابرار شوے دے

❁ ❁

تهٔ په ماښي کښې دَ جنت مېشته يُې
دَ ناعمې خندا ته پام اوکړه لږ
خیل ځان ته زړهٔ کښې فرښتې بسخوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته دَ کور دروازه مهٔ ساته اوس
نوې فتنې ترې رابرخېږه نهٔ شي
بيا چا په زمکه کښې غنم اوکرل

❁ ❁

راکوره مهٔ دا به احسان وي په ما
ادا کوي به څوک ددې کفاره
ستا په کتو زما روژه ماته شوه

❁ ❁

بيا به زهٔ تا سره په سېل نهٔ اوځم
تا دَ ورېځ کمبل کښې اونغښته ځان
واوره په ما تمامه شپه ورېده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نهٔ چې زهٔ ورته کتے نشم ، خو
میانديږ که خیال دَ خپل ناموس ساتي نو
بیا دې زامنو له وادهٔ نهٔ کوي

❀ ❀

زهٔ دَ رومان یوه سندره یمه
زما دَ ژوند په هره لار الوځي
ځرخکې ، زانې ، لوکلکه ، بلبلې

❀ ❀

ستا دَ انصاف شمله راټیټه مهٔ شه
خو اوس په دې کښې به څوک څهٔ اووائي
لېوانو مات کړل دَ هوسو بچوړي

Scanned by CamScanner

موږ يې حقونه په سر سترګو منو
خو ښځې نهٔ سپارو طوفان ته د ژوند
څوک د هوسې په اوږو بار نهٔ اوړي

❀ ❀

ما چې پرې ټول عمر خپل ځان خوړلو
لکه ببره کړې چې ما اووينې
کرسې کښې تاؤ شي رانه مخ واړوي

❀ ❀

هڅې به دې لاس کښې برکت راشي
د پلار په مخ چې لګېدلې يې ته
ياد يې ساته څوک به دې مخ نهٔ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر مې قلم نهٔ کړې منصف دَ وطن
دَ ګلو لښته چې راغاړه وته
اوس مې په ساه ساه کښې ورېږي دي د ګل

❀ ❀

تهٔ دَ هاتهي غوږ کښې اودهٔ ولې یې
چې په لستوڼي کښې ماران ساتي نو
ځان به ستا په خوله کښې اوښکېږي

❀ ❀

چا یې دَ زړهٔ درزاء لیدلې نهٔ ده
اٰ شازادګۍ قرانګو ما یادوي
بړدې چې په تاج کښې د طاوس وزرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومنه دا ډېره سپېره لوبه ده
بیا به هم تاته د ژوند لارې نیسي
خپلو بچو سره شطرنج مه کوه

✿ ✿

دومره په مینه مینه مه را ګوره
لمبې نه ورانه ترېنه سازه نه شي
ښځې زما تورو کښې ژنګ نښته دے

✿ ✿

د بدمعاشانو ښار دے غبن مه کوه
که کمزورې ښایم نو مړ به مې کړي
تو پې مې څکه په چمبا ایښې ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر چاپ کتابونه

۱) د زړه سپو ړي ، پښتو شاعري ، ۱۹۹۱ء

۲) ہم آئینوں کے قیدی ، اردو شاعری ، ۱۹۹۳ء

۳) ستړګو کښې خوب د ګودر پاتې نه شو ، پښتو شاعري ، ۱۹۹۶ء
رومي ایوارډ یافته چاچا کریم بخش ایوارډ ۱۹۹۶ء

۴) راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي ، د پښتو هایکو مجموعه ، ۱۹۹۸ء

۵) گرفت ، اردو شاعری ، ۱۹۹۹ء

۶) کاڼي د ګل په لاس کښې خوندونه کوي ، د پښتو هایکو مجموعه ، ۲۰۰۰ء

۷) اوازونه او دائرې ، پښتو تنقید ، ۲۰۰۱ء

۸) په ساحل د نظر ، پښتو شاعري ، ۲۰۰۲ء

۹) ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دې ، د پښتو هایکو مجموعه ، ۲۰۰۳ء

# چاپ ته تیار

۱) رضا ہمدانی احوال و آثار ، اردو تحقیق (پی - ایچ - ڈی مقالہ)

۲) نیا اور پرانا غالب ، اردو تنقید

۳) هایکو او پښتنه هایکو ، تنقید و تحقیق .

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**